ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت

د عامه اطلاعاتو او نشراتو رياست

# ترانسپورټ او هوايي چلند

مجله

علمي معلوماتي فرهنګي




پرله پسې: ۷ ګڼه

د ۱۴۰۳ کال څلورمه

- د زېربناوو د پراختيا کال (سرليکنه)
- د افغان پلاوي سفر او سيمه‌ييزې اقتصادي همکارۍ
- اقدامات مهم برای توسعه تسهیلات ترانسپورتی در ولایات مختلف افغانستان
- د اوبو شينډل د خوشبختۍ، درناوي او روښنايۍ نړيوال سيمبول
- بېړه او پښېماني
- هوايي ډګر کې د څار برج (Control Tower)
- فراز و فرود هوانوردی افغانستان در سال ۱۴۰۳؛ گامی بسوی پیشرفت و خودکفایی



بلخ ولایت، د قوشتیپې کانال پل

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

اَلْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ۝ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ۝

وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى أَشْرَفِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ۝

وَعَلٰى ءَالِهٖ وَصَحْبِهٖ أَجْمَعِيْنَ۝



جوزجان ولایت، د انقري جومات

# ترانسپورټ او هوايي چلند مجله

علمي · معلوماتي · فرهنګي

د ۱۴۰۳ ل کال څلورمه، پرلپسې اوومه ګڼه

امتياز خاوند: ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت

خپروونکی: د عامه اطلاعاتو او نشراتو رياست

مسئول مدير: نورالله غازي

کتنپلاوی: مولوي محمد موسی غزنوي، مولوي راز محمد المظهري
احمد جاويد فيضي، سيد جاويد محبوب
احسان الله سعادت مدني، حکمت الله آصفي
عزيز الرحمن فراجغاني

خبريالان: عبدالحليم حليمي او مجيب‌الرحمن مشعل

عکس اخيستونکي: روح الله هنرجو، ايمل سمون

ډيزاينر: محمد هادي قاسمي

پته: انصاري واټ، ملي راډيو ټلويزيون ته څېرمه
ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت

اړيکي شمېره: ‎+(93) 0202923296

ايکسپاڼه: @DChlnd

ويبپاڼه: www.mota.gov.af


**يادونه:**

- له سرليکنې پرته د نورو ليکنو سپيناوی د ليکوالانو پر غاړه دی.
- د مجلې له مقالو ګټه اخيستنه د سرچينې په يادولو سره جواز لري.
- ترانسپورټ او هوايي چلند مجله د ترانسپورټ او هوايي چلند اړوند هغو مقالو او مطالبو ته په خپلو پاڼو کې ځای ورکوي، چې بل ځای نه وي خپرې شوې.

# په دې گڼه کې:





















سرلیکنه ........................................ ۱
د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د محترم مقام لنډ پیغام ........ ۲
د افغانستان هوايي ډګرونه ........................................ ۳
د افغان پلاوي سفر او سیمه‌ییزي اقتصادي همکارۍ ........................ ۸
بېړه او پښېماني ........................................ ۱۰
غلبه بر ترس از پرواز در طیاره ........................................ ۱۳
د سوېلي کوریا په موان هوايي ډګر کې لویه مرګوني پېښه ........ ۱۴
د اوبو شینډل د خوشبختۍ، درناوي او روښنایۍ ........................ ۱۵
هوايي ډګر کې د څار برج (Control Tower)........................ ۱٦
د هوايي ډګر ترمینل، مسافرو ته لاربښووني او اسانتیاوې ........ ۱۹
فعالیت ها و دستاورد ها ........................................ ۲۱
د افغانستان هوايي ډګرونه او پرمختګونه ........................ ۲۳
اقدامات مهم برای توسعه تسهیلات ترانسپورتی در... ................ ۲۷
په هلمند او سمنګان ولایتونو کې د ټرانسپورټي تاسیساتو..... ۲۸
د یو کال په موده کې د تخنیکي چک پروسه ........................ ۳۰
د درېیو میاشتو په موده کې د ځینو ترسره شویو غونډو..... ۳۱
د افغانستان ځمکني ټرانسپورټ او ټرانزیټ په برخه کې... ........ ۳٤
فراز و فرود هوانوردی افغانستان در سال ۱۴۰۳... ................ ۳۷
په نړۍ کې د هوايي چلند اروند وروستۍ مرګوني پېښې ........ ٤۱
ښکلا په څه کې ده؟ ........................................




# د زېربناوو د پـراختیا کـال

## سرلیکنه

۱۴۰۳ لمريز کال د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لپاره د هڅو، نوښتونو او زېربنايي پرمختګونو کال و. دا کال د افغانستان د ټرانسپورټي سکتور د ودې او معیاري کېدو لپاره یوه مهمه پایه ګڼل کېږي. له نړیوالو هوايي ډګرونو نیولې، تر سرحدي بندرونو، ترمینلونو، تېرپارکونو او نورو ټرانسپورټي تاسیساتو پورې پراخې پروژې طرحه، پلې او یا د تطبیق مرحلې ته داخلې شوې دي. په ۱۴۰۳ل کال کې د اسلامي امارت د ملي بودجې له لارې، ۳۴ پروژې عملي شوې، چې له دې جملې څخه ۲۰ یې د واټ ټرانسپورټ او ۱۴ یې د هوايي چلند په برخه کې دي. د یادو پروژو ټولیز ارزښت له ۱.۶ میلیارده افغانیو څخه اوړي. تر څنګ یې ۵۳ نورې مهمې زېربنايي او تاسیساتي پروژې طرحه، ډیزاین او تدارکاتي مرحلې ته رسیدلي، چې په دې کې ۳۸ د واټ ټرانسپورټ او ۱۵ نورې یې په هوايي چلند پورې اړه لري. د دغو پروژو ټولیز ارزښت نږدې څلور میلیارده افغانۍ اټکل شوی دی. همداراز د خصوصي سکټور په مشارکت سره هم یو شمېر ارزښتمنې پروژې پیل شوې، چې کارونه یې په چټکۍ سره روان دي. د هوايي چلند برخه کې د هوايي ډګرونو پراختیا ته جدي پاملرنه شوې، په کابل نړیوال هوايي ډګر کې د درې پوړیز معیاري انتظارځای د جوړېدو چارې پیلول، د احمدشاه‌بابا نړیوال هوايي ډګر د جیولېټ رمپ پراخولو پروژه، په مولانا جلال‌الدین محمد بلخي نړیوال هوايي ډګر کې د انتظارځای او موټرو د تمځای جوړېدل، په خواجه عبدالله انصاري نړیوال هوايي ډګر کې د څار برج بیارغونه او نور پرمختګونه یادولای شو. همداراز په بادغیس، بامیان، بدخشان، پکتیکا، هلمند او نورو ولایتونو کې د محلي هوايي ډګرونو د احیا، احاطوي دیوالونو، څغاستلیکو او نورو تاسیساتو د بیا رغونې چارې ترسره شوې دي. دغه پرمختګونه مسافرو ته اسانتیاوې برابروي او د افغانستان د نړیوال حیثیت لوړولو کې مهم رول لري. ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې هم د پام وړ لاسته‌راوړنې لري. د ۱۴۰۳ل کال په ترڅ کې د ننګرهار ولایت په تورخم، د کندوز ولایت شېرخان بندر، د فراه ولایت ابو نصر فراهي، سمنګان، هلمند، هرات او نورو سیمو په ښاري او بندري برخو کې د باروړونکو او مسافروړونکو وسایطو لپاره په ټولو اړینو اسانتیاوو سمبال معیاري ترمینلونه، تیرپارکونه، اداري ودانۍ او ۲۴ ولایتونو په ټرانسپورټي مراکزو کې د لمریزې بریښنا سیستمونه جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

د ۱۴۰۴ مالي کال لپاره هم د پام وړ نوې پروژې پلان شوې دي، چې پکې د احمدشاه بابا نړیوال هوايي ډګر نوی ترمینل، په کابل، هرات، کندهار او بلخ ولایت په ځینو سیمو کې بریښنايي دروازې، په ترمینلونو کې د وسایطو تخنیکي چک مرکزونه او نور رغنیز کارونه شامل دي. دا پلانونه هیله رامنځته کوي چې د هېواد ټرانسپورټي سیستم لا معیاري، پرمختللی او د نړیوالو معیارونو سره سم شي.

۱۴۰۳ل کال د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لپاره د عمل، ابتکار او پرمختګ کال و. دا لاسته‌راوړنې د یوه خوندي، معیاري، عصري او له نړۍ سره د وصل ټرانسپورټي سیستم د بنسټ ایښودو لپاره ارزښتناک ګامونه ګڼل کېږي. د هوايي او ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې دا پرمختګونه د هېواد د اقتصادي ودې، د خلکو د سوکالۍ او د نړیوالو اړیکو د پیاوړتیا لپاره یو روښانه راتلونکی انځوروي.



# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د محترم مقام لنډ پيغام

په داسې حال کې چې نړۍ ورځ تر بلې د اقتصادي، ټرانزيټي او سوداګريز پرمختګ پر لور ګامونه اخلي، د افغانستان اسلامي امارت، په ځانګړې ډول د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت، د هېواد د اقتصادي ودې، سيمه‌ييز اتصال او نړيوال اعتبار د بېرته راژوندي کولو په موخه، په پوره ژمنتيا او عزم کار کوي.

ټرانسپورټ که له يوې خوا د توکو او خلکو د لېږد وسيله ده، له بلې خوا د ملتونو تر منځ د باور، همکارۍ او سوداګرۍ د پل حيثيت هم لري. له همدې امله مو په ۱۴۰۳ل کال کې د يو شمېر مهمو هېوادونو له استازو، سفيرانو او د ټرانسپورټ مسؤلينو سره ګڼې ليدنې او خبرې اترې درلودې.

د لاجوردو لارې د بيا فعالولو، د چابهار بندر له لارې د ټرانزيټ پراختيا، د TIR سيسټم پياوړتيا، د کارګو الوتنو زياتوالی، د واټ ټرانسپورټ اسانتياوې دا ټول هغه اهداف دي، چې موږ پرې تمرکز کړی او د سيمه‌ييزو او نړيوالو همکارانو ملاتړ مو تر لاسه کړی دی.

د ترکيې، ايران، چين، قزاقستان، قطر، ترکمنستان، اذربايجان او نورو هېوادونو له استازو سره د ټرانسپورټي اړيکو پراخولو په اړه ګټورې ناستې او بحثونه وشول، چې پايلې يې ډېرې ګټورې او په راتلونکي کې به ان‌شاءالله افغانستان د ټرانزيټ په څلورلارې بدل کړای شي.

موږ الحمدلله د سيمې له هېوادونو سره د دهلېزونو د احيا مهمه برخه يو او نور افغانستان يوازې نه دی، د سيمې او د اسيا د تګ راتګ يو مهم پل به وي، چې سوداګريز کاروانونه به پرې تګ راتګ کوي.

په ۱۴۰۳ل کال کې د ننه په هېواد کې هم د ټرانسپورټي سيسټم د معياري کولو، د موټرو د تنظيم، د ګمرکي او ټرانسپورټي اسانتياوو رامنځته کولو او د هوايي چلند د ودې لپاره ارزښتناک ګامونه اخېستل شوي دي.

زه باور لرم چې د دې ناستو، ليدنو او هوکړو پايله به دا وي، چې افغانستان به ډېر ژر د سيمې د ټرانزيټ او سوداګرۍ يو مهم مرکز شي، او زموږ اقتصادي راتلونکی به روښانه، پرځان بسيا او له فرصتونو ډک وي.

په پای کې له خپل متعال رب څخه د لا بريا دعا کوم او د وزارت ټولو هڅاندو کارکوونکو، شريکانو، همکارو هېوادونو او خصوصي سکتور څخه مننه کوم، چې زموږ د ملي هدف د تحقق لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې کوي.

**الحاج ملا حميدالله اخندزاده**

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست

(لړۍ)



# د افغانستان
## هوايي ډگرونه

پرلپسې څلورمه برخه

**د افغانستان د هوايي ډگرونو د پېژندگلوۍ په دې لړۍ کې دا ځل د افغانستان په شمال کې بل مهم هوايي ډگر (مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډگر) در پېژندل کېږي.**




# مولانا جلال‌الدین محمد بلخي نړیوال هوایي ډګر

هوایي ډګرونه د یوه هېواد د پرمختګ، نړیوالو اړیکو، سوداګریزو فعالیتونو او سیاحت د پراختیا لپاره حیاتي رول لري. د مولانا جلال‌الدین محمد بلخي په نوم نړیوال هوایي ډګر، چې د افغانستان په شمال کې موقعیت لري، د سیمې لپاره یوه مهمه هوایي دروازه بلل کېږي. دا هوایي ډګر هم په کور دننه او هم له نړیوالو ښارونو سره د افغانستان د نښلولو په برخه کې مهم رول لوبوي او د یوه هېواد د هوایي چلند پرمختګ یوه روښانه بېلګه ده.

## تاریخچه او جوړښت

د مولانا جلال‌الدین محمد بلخي نړیوال هوایي ډګر، چې د بلخ ولایت د شادیان په سیمه کې موقعیت لري، په لومړیو کې د مزارشریف هوایي ډګر په نوم پېژندل کېده، چې په خامه ډول جوړ شوی و، یاد هوایي ډګر په ۱۳۴۲ل د جوړېدو پلان جوړ او د امریکا متحده ایالاتو د اقتصادي او تخنیکي همکاریو د پراختیایي پروژې برخه وګرځید، چې په دې کې د دوه زره مترو په اوږدوالي او ۴۵ مترو په پلنوالي پخه ځغاستلیکه، د الوتکو لپاره پوخ تم ځای د منځنۍ کچې ترمینل او د څار برج، د اور وژنې او هوا پېژندنې مرکزونه، د الوتکو لپاره د سون توکو کوچنی زیرمتون، د VHF او HF ډول مخابراتي وسایلو نصب او فعالول، د الوتکو لارښود لپاره د NDB ډول وسایلو نصب او فعالول او د اوبو، برېښنا او کانالیزاسیون سیستمونو برابرول او نورې چارې شاملې وې. د دغه هوایي ډګر د جوړېدو چارې په ۱۳۴۴ کال کې بشپړې شوې او وروسته د هوایي ډګر کارکوونکو لپاره اته فامیلي کورونه هم پکې جوړ شول. په ۱۳۵۸ل کال کې د یاد هوایي ډګر ځغاستلیکه ۶۰۰ متره لوېدیځ لور ته اوږده شوه او د پخې ځغاستلیکې ټول اوږدالی ۲۶۰۰ مترو ته ورسېد، چې د بوینګ (۷۲۷) ډوله او نور معادلو الوتکو لپاره چمتو شو. د هغه وخت د دولت د پراختیایي پلانونو له مخې په ۱۳۶۶ل کال کې د دغه هوایي ډګر د لا پرمختګ چارې پیل شوې او په ۱۳۶۷ کال کې د ټکسوې جوړولو کار پیل شو او



ځغاستلیکه ۶۰۰ متره نوره هم ختیځ لور ته وغځول شوه، چې د ځغاستلیکې او ټکسوې ټول اوږدوالی ۳۲۰۰ متره ته ورسېد او په دې سره یاد هوایي ډګر د اریانا هوایي شرکت د (TU-154) او ورته معادلو الوتکو لپاره مناسب وګڼل شو او د راتلونکو پلانونو له مخې د یوه نړیوال هوایي ډګر په توګه په پام کې ونیول شو.



## د هوايي ډګر پرمختګ او نوی ترمينل

په ۱۳۹۲ل کال کې د دغه هوايي ډګر نوی ترمينل د المان او متحده عربي اماراتو په مالي مرسته د درېيو کلونو په موده کې د ٦٠ ميليونه ډالرو په لګښت جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو. دغه ترمينل د ۲۰۰۰ مسافرو د ځايېدو ظرفيت لري او د نړيوالو معيارونو مطابق عصري خدمتونه وړاندې کوي. همدارنګه په پورتنۍ نېټه د مزار شريف هوايي ډګر د مولانا جلال الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډګر په نوم هم ونومول شو او هماغه وخت اعلان وشو چې دا هوايي ډګر په کال کې د ۴۰۰ زره ټنه سوداګريزو توکو د لېږد ظرفيت لري، چې په سيمه کې به ځانګړی ستراتيژيک ارزښت ولري.

## د هوايي ډګر تخنيکي ځانګړتياوې

### ځغاستليکه:

د مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډګر يو له مهمو تخنيکي ځانګړتياوو څخه يې ځغاستليکه ده، چې ۳۲۰۰ متره اوږدوالی او ۴۵ متره پلنوالی لري. دا اوږده او پراخه ځغاستليکه د هر ډول مسافروړونکو او باروړونکو الوتکو د خوندي ناستې او پورته کېدو لپاره مناسب شرايط برابروي.

### ټکسوې او رمپونه:

د دې هوايي ډګر د الوتکو د حرکت اسانتيا لپاره ۱۰ ټکسوې (Taxiways) او ٥ فعال رمپونه لري، چې د الوتکو د ځمکني تګ راتګ، تمځېدو او خدماتو ترلاسه کولو لپاره کارول کېږي. دغه ټکسوې د نړيوالو هوايي معيارونو پر اساس جوړې شوې دي، تر څو د هوايي چلند اسانتياوې لا پياوړې کړي.

### کارګو ترمينل:

د سوداګريزو توکو د لېږد لپاره، د مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډګر يو پراخ کارګو ترمينل لري، چې د کال ۴۰۰ زره ټنه سوداګريزو توکو د لېږد ظرفيت لري. دا کارګو ترمينل د افغانستان د صادراتو او وارداتو په برخه کې مهم رول لري او سوداګرو ته د توکو د خوندي انتقال اسانتياوې برابروي.

## امنيتي تدابير:

د مسافرو او الوتکو د خونديتوب لپاره، دا نړيوال هوايي ډګر د ايکسرې (X-Ray) په عصري وسايلو سمبال دی، چې د بار او مسافرو د تلاشۍ لپاره کارول کېږي. دغه عصري وسايل د امنيتي ګواښونو د مخنيوي لپاره مهم رول لري او د نړيوالو امنيتي معيارونو سره سم تنظيم شوي دي.

## اوروژنې ټيم:

د هوايي ډګر د خونديتوب بل مهم اړخ، د اور وژنې مجهز او مسلکي ټيم دی، چې د هر ډول اورلګېدنې د مخنيوي او کنټرول لپاره روزل شوی. دا ټيم د پرمختللو اور وژنې وسايلو سره سمبال دی، ترڅو په بېړنيو حالاتو کې ژر تر ژره اقدام وکړي.

## هوا پېژندنه:

د هوا پېژندنې يو مجهز سټېشن د دې هوايي ډګر يوه مهمه برخه ده، چې نه يوازې د الوتکو لپاره د هوا حالاتو مهم معلومات برابروي، بلکې د طبعي پېښو د اټکل او خلکو ته د هوايي شرايطو د خبرتيا په برخه کې هم مهم رول لري.

## د مسافرو اسانتياوې:

د مسافرو د هوساينې لپاره، د مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډګر کې د موټرو تمځای، جومات، انتظارځای، شنې سيمې او تفريحي منظرې لري، چې مسافرو ته د ارامۍ چاپېريال برابروي.

# د اسلامي امارت د حاکميت وروسته پرمختګونه

مولانا جلال الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډګر هم د نورو هوايي ډګرونو په څېر د نړيوالو جګړه‌مارو ځواکونو په ولکه کې و او د افغانانو په ځپلو او شهيدانولو کې ترې ګټه پورته کېده، چې د اسلامي امارت په واکمنېدو سره په دې هوايي ډګر کې نوې ساه وغړېده، ټولې چارې يې افغانانو ته وسپارل شوې، د هوايي چلند تخنيکي ټيم د لا زياتې روزنې لپاره بهر ته ولېږل شو، چې له زده کړو بشپړولو وروسته پر خپلو اړوندو دندو وګمارل شول او د چارو د ښه والي لپاره يې ګټور فعاليتونه ترسره کړل.
د اسلامي امارت د مشرتابه په وړانديز د ازبکستان تخنيکي متخصصينو د ياد هوايي ډګر د ناوبرې او هوا پېژندنې وسايلو ترميم، د ځغاستليکې بيا رغونه، پارکينګ اسانتياوې او د برېښنا سيسټم فعالولو چارې بشپړې کړې. د دې پرمختګونو له امله اوس دغه هوايي ډګر د شپې له خوا او د سختو موسمي شرايطو پر مهال د الوتنو وړتيا لري.
د هوايي ډګر مسؤلينو د قاچاق د مخنيوي لپاره هم جدي ګامونه پورته کړي، د اسلامي امارت په واکمنېدو په لومړيو ورځو کې د ۵۰ کيلوګرامه سرو زرو او درې ميليونه امريکايي ډالرو د ناقانونه لېږد مخه ونيول شوه.
د امنيتي تدابيرو ترڅنګ، د ياد هوايي ډګر ۲۰ کارکوونکو ته د ازبکستان له لوري مسلکي زده‌کړې ورکړل شوې، چې د تخنيکي چارو د لا ښه‌والي لامل شوې. له شلو کلونو وروسته، د ياد هوايي ډګر برېښنا د جنراټورونو پر ځای له ښاري شبکې سره ونښلول شوه، چې له دې سره له يوې خوا د انرژۍ دوامداره تأمين ممکن شو او له بلې خوا د لګښتونو د کمښت سبب هم شو. دغه نړيوال هوايي ډګر، چې د افغانستان په شمال کې مهم ستراتيژيک موقعيت لري، د ايکاو نړيوالو معيارونو مطابق سمبال شوی، د الوتنو خونديتوب ته ځانګړې پاملرنه شوې، د مسافرو او سوداګريزو الوتنو لپاره غوره اسانتياوې لري.



 څو مياشتې وړاندې د پخواني ترمينل بيارغونې چارې ترسره شوې او د DVOR/DME دستگاه چې الوتکو ته د هوايي ډگر موقعيت او فاصله ښيي او د PAPI څراغونه، چې الوتکو ته د خوندي ناستې اسانتيا برابروي فعال شول او د دې تر څنگ د دې هوايي ډگر د لا پراختيا په موخه د ۷۳ ميليونه افغانيو په ارزښت د دوو مهمو پروژو چارې پيل شوې چې په دې کې د مسافرو لپاره معياري انتظارځای او د ۱۰۰۰ موټر ظرفيت لرونکی پراخ تمځای شامل دي، چې ډېر ژر به گټې اخيستنې ته وسپارل شی. همداراز د ياد هوايي ډگر په عملياتي په برخه کې د غږيزو اعلانونو اته چينله (PA System) الې فعاله شوې، چې مسافرو ته د الوتنو د لارښوونو او مهمو معلوماتو د رسولو لپاره کارول کېږي. په دې چارو سره به د مسافرو د سفر اسانتياوې زياتې، د موټرو تنظيم به منظم او د هوايي ډگر چاپېريال به ورسره لا پرمختللی شي

مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډگر د افغانستان په شمال کې يو له مهمو نړيوالو هوايي ډگرونو څخه دی. دا هوايي ډگر له هېواد څخه بهر اسلام اباد، تهران، مشهد، جدې، دوبۍ او استانبول ته الوتنې لري او په کور دننه هم د هېواد بېلابېلو محلي هوايي ډگرونو ته ترې الوتنې ترسره کېږي.

مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډگر نه يوازې د افغانستان لپاره يو مهم سوداگريز او مسافري مرکز دی، بلکې د نړيوالو معيارونو سره سم د هېواد د هوايي چلند يو ستر پرمختگ هم گڼل کېږي. د دې هوايي ډگر د لا پراختيا لپاره، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت هڅه کوي چې لا نورې اسانتياوې برابرې کړي، څو د سيمې د هوايي ټرانسپورټ لپاره لا مهم رول ولوبوي.






# د افغان پلاوي سفر او سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ

د ۱۴۰۳ لمریز کال د مرغومي میاشتې په ۱۸مه نېټه د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي په مشرۍ یو لوړپوړي پلاوي متحده عربي اماراتو ته سفر وکړ. د دې سفر په ترڅ کې د ټرانسپورټ او سوداګرۍ د لا پرمختګ لپاره مهمې ناستې وشوې. په دې پلاوي کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مالي او اداري معین حافظ صدیق‌الله عابد هم ګډون درلود.

یاد پلاوي د متحده عربي اماراتو د اقتصاد وزیر او د هوايي چلند چارواکو سره مهمې ناستې ترسره کړې، چې په ترڅ کې یې د هوايي چلند، ټرانسپورټ او سوداګریزو همکاریو د پراختیا په اړه بحثونه وشول. دواړو لورو د افغان سوداګرو لپاره د اسانتیاوو رامنځته کولو، د سوداګریزو توکو د لېږد پر اسانتیا او د هوايي چلند خدماتو د ښه‌والي په اړه خبرې وکړې.

د دې تر څنګ د اماراتو د هوايي چلند د ټرینینګ سنټر څخه لیدنه وشوه او افغانستان د هوايي چلند لپاره ځانګړي روزنیز پروګرامونه معرفي شول. دا هغه روزنیز سنټر و چې وړاندې ترې د افغانستان یو شمېر کارکوونکو حضوري او انلاین روزنه هم ترلاسه کړې وه. د سنټر مسؤلینو ژمنه وکړه چې د افغانستان د هوايي چلند کارکوونکو ته به لا نور روزنیز پروګرامونه برابر کړي او د دواړو لورو ترمنځ هوکړه وشوه، ترڅو افغان متخصصین د نړیوالو معیارونو مطابق روزنه ترلاسه کړي.

د دواړو هېوادونو ترمنځ د هوايي چلند او ټرانسپورټ په برخه کې هم مهم بحثونه وشول. د افغانستان او متحده عربي اماراتو ترمنځ هوايي الوتنې زیاتې دي او ځینې سوداګریز توکي د هوا له لارې لېږدول کېږي؛ نو اړینه وه چې د هوايي ډګرونو په څنډو کې مناسب ځایونه ځانګړي شي. په همدې موخه دواړو لورو ځانګړي استازي معرفي کړل، چې هلته ناستې وکړي او راتلونکې غونډې به هم دوام ولري.

## د پانګونې نوې فرصتونه او اقتصادي همکارۍ

د افغان پلاوي د سفر پر مهال، له یو شمېر افغان سوداګرو سره ناستې وشوې، چې پکې دوه افغان پانګه‌وال په ځینو برخو کې پانګونې ته چمتو شول. دا ګام د افغانستان د صنعتي ودې او اقتصادي پیاوړتیا لپاره مهم پرمختګ بلل کېږي، چې په اوږدمهال کې به د هېواد د زیربنايي پروژو ملاتړ وکړي.

# له هندوستاني لوړپوړي هيئت سره ګڼورې خبرې

یاد افغان پلاوي د دې سفر په ترځ کې له هندوستاني لوړپوړي هيئت سره هم مهمې ناستې درلودې. دا هيئت د هندوستان د بهرنيو چارو د مرستيال په مشرۍ راغلی و. په دې خبرو کې دواړو لورو د سوداګرۍ د ودې او اقتصادي همکاريو د پراخولو پر مهمو مسايلو بحث وکړ. د دې ناستو پر مهال، پرېکړه وشوه چې هندوستان به افغان سوداګرو ته د ويزو د ورکړې پروسه اسانوي، ترڅو د دوی تګ راتګ او سوداګريز فعاليتونه له ستونزو سره مخ نشي او سوداګري لا پراخه شي. همداراز دواړو هېوادونو هوکړه وکړه چې د افغانستان صادرات به هندوستان ته زيات شي، څو افغان سوداګرو ته لا ډېر فرصتونه برابر شي او د افغاني محصولاتو لپاره د هندوستان بازار دروازې لا پسې پرانستل شي. دواړو هېوادونو ژمنه وکړه چې د خپلو ډيپلوماټيکو اړيکو کچه به لوړه کړي، چې له دې سره به د دواړو هېوادونو اقتصادي، سياسي او کلتوري همکارۍ هم پراخې شي. دا هوکړې د افغانستان او هندوستان ترمنځ د متقابل اعتماد او اقتصادي ودې لپاره يو مهم ګام بلل کېږي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ به د سوداګرۍ، پانګونې او ډيپلوماټيکو اړيکو د لا پياوړتيا لامل شي.

د افغانستان اسلامي امارت تل د متوازن او اقتصاد محوره سياست پلوی دی او د دې سفر موخه هم د سوداګرۍ، ټرانسپورټ او هوايي چلند برخو کې د همکارۍ پراخول وو. تمه ده چې دا سفر به د افغان سوداګرو لپاره نوي فرصتونه رامنځته کړي، د اقتصادي ودې لپاره به لاره هواره د افغانستان او سيمې هېوادونو تر منځ اقتصادي همکارۍ به لا پسې پراخې کړي.



# بېړه او پښېماني

مفتي عزيزالرحمن "عزيزي"

لکه څرنګه چې د انسان په خټه کې اسلامي فطرت اغړل شوی، ځينې کړنې يې سمې او ځينې ناسمي وي، ځينې د انسان له سالم فطرت سره سمون خوري او ځينې ورسره په ټکر کې وي. اسلام هيڅکله هم په ناوړه او زيان رسوونکي ځيز باندې امر نه کوي؛ بلکې په هر هغه څه لارښوونه کوي، چې د انسان اوسني ژوند ګټې په کې نغښتي وي او د راتلونکي ژوند نېکمرغي او غوره ليدلوری وي.

د بېړې او عجلې په اړه زموږ خوږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم په دوو کلمو کې څرګندونه کړې، چې زموږ د ژوند ټولې چارې ورپورې تړلې دي: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " الْأَنَاةُ مِنَ اللَّهِ، وَالْعَجَلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ. ژباړه: نرمي د خدای تعالی له لوري ده او بېړه د شيطان څخه ده (رواه الترمذي رقم الحديث ٢٠١٢)

شيطان هڅه کوي چې انسان په يو کار او ستونزې کې ښکېل کړي او بې ثباتي رامنځته کړي په داسې ډول چې د بېړې يا عجلې له کبله يې کار نيمګړی او په راتلونکې کې په خپل کار پښېمانه شي.

عمرو بن العاص رضی الله عنه وايي: سرې تل د بېړې په پايله کې پښېماني ترلاسه کوي. (تحفة الاحوذي٦/١٢٩).

بېړه او تادي د انسان په فطرت کې اغړل شوې لکه په دې اړه الله تعالی فرمايي: وَيَدْعُ الْإِنسٰنُ بِالشَّرِّ دُعَآءَهُ بِالْخَيْرِ ۖ وَكَانَ الْإِنسٰنُ عَجُولً. ژباړه: انسان په هغه شان بدي غواړي، لکه څنګه چې د خير غوښتل اړين دي. انسان ډېر تلوار کوونکی دی. (سُوْرَةُ بنىٓ اسرآئيل/الإسرَاء : ١١)

بېړه يا عجله د انسان په طبيعت کې نغښتې ان ځان ته په دعا کولو کې هم بېړه کوي او په هر هغه څه کې بېړه کوي، چې په زړه کې يې راتېرېږي. مخکې له دې چې راتلونکی عاقبت او انجام وسنجوي.(صفوة التفاسير ٢/ ١٤٢. البحرالمديد في تفسير القرآن المجيد ٣/١٨٦).

ضحاک د ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت کوي: کله چې د ادم عليه السلام په بدن کې روح واچول شو؛ نو د روح پوکې د سر له لوري راتګ پرې وکړ، د بدن کوم ځای ته به چې روح ورسېد، هغه ځای به غوښه او وينه وګرځيد، کله چې روح نامه ته ورسيد؛ نو خپل بدن ته يې وکتل پس په تعجب کې شو، هڅه يې پيل کړه چې پورته شي، خو بالاخيره ونه توانيده. دا قول د الله تعالی دی، چې انسان تلوار کوونکی دی. (تفسير الطبري ١٧/٣٩٥).

امام رازي رحمه الله په ياد ايت کې دوه قوله راوړي دي:

لومړی: کله چې ادم عليه السلام روح نامه (نو) ته ورسيده په تعجب کې شو، له دې سره سم يې کوښښ پيل کړ، چې پورته او روان شي، خو پرې ونه توانيده. دويم قول: ياد ايت حمل دی پر جنس باندې يعنې هيڅ يو انسان د بېړې او تلوار څخه خالي نه دی، که چيرې چا بېړه او عجله پرېښوده؛ نو دنيا او اخرت به يې سم شي. امام رازي رحمه الله وايي: لومړی قول اصل دی؛ ځکه چې د ټول بشريت پلار ادم عليه السلام دی، کله چې ادم عليه السلام په عجلة باندې موصوف شو، نو ياد صفت د ټول بشريت سره اړين او لازم وګرځيده. ثُمَّ قَالَ تَعَالَى: وَكَانَ الْإِنْسَانُ عَجُولًا (تفسير الرازي ٢/٣٠٥)

امام غزالي رحمه الله په خپل کتاب احياء العلوم کې د هغو کړنو په اړه چې د شيطان لپاره ستري دروازې ګڼل کېږي، يو له هغو څخه بېړه او په يو کار کې بې باکي کول ياد کړي دي.



لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې فرمایي: بېړه او تلوار د شیطان کړنه ده او نرمي د خدای تعالی له لوري ده. په بل ایت کې د انسان عجلت په اړه راځي: خُلِقَ الْإِنسَٰنُ مِنْ عَجَلٍ ۚ سَأُورِيكُمْ ءَايَٰتِى فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ ژباړه: انسان تلوارکوونکی مخلوق دی، همدا اوس (ژر) زه تاسې ته خپلې نښانې درښیم، تلوار مه کوئ. (سُوْرَةُ الأنبيَاء : ۳۷) او وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْءَانِ مِن قَبْلِ أَن يُقْضَىٰٓ إِلَيْكَ وَحْيُهُۥ ۖ

**ژباړه:** او (ګوره)، د قرآن په لوستلو کې تلوار مه کوه، تر څو پورې چې تا ته د هغه بشپړه وحیې نه وي رسول شوې. (سُوْرَةُ طٰه : ۱۱۴)

کله چې یو انسان بېړه او تادي کوي، شیطان په خورا چټکۍ انسان له یو داسې شر سره مخامخ کوي، چې د ده به په فکر او خیال کې هم نه راګرځي.(احياء علوم الدين ۳/ ۳۳).

امام ماوردي رحمه الله د عجلة (بېړې) په اړه په خپل تفسیر کې لیکلي دي: عجلة یا بېړه د انسان په فطرت کې ده، چې انسان په طبیعي توګه بېړه کوونکی دی. د امام قتاده رحمه الله له قوله لیکي: عجله یا بېړه په انسان کې د ځانګړي خاصیت په توګه پیدا شوې، یعني دا ځانګړتیا د انسان د خلقت برخه ده او د

امام ابن قتیبة رحمه الله له قوله لیکي: انسان په فطرت کې د بیړې سره مینه لري، یعني انسان دا خوښوي چې هر څه ژر ترسره کړي.

دلته عجله یا بېړه په دې معنا ده چې یو کار له خپل ټاکلي وخت وړاندې ترسره شي او سرعت یا چټکتیا بیا د دې مفهوم ورکوي چې یو کار په خپل لومړني وخت کې ترسره شي. (تفسیر الماوردي ج ۳/ص ٤٤٨).

بېړه د انسان له زیږون څخه پیل کېږي. کله چې انسان دنیا ته راشي، لومړی په لوړ اواز چیغې وهي او هڅه کوي، چې د مور شیدې ترلاسه کړي. د وخت په تېرېدو سره په خپل لاس خوراک پیل کړي. له همدې امله انسان تر ټولو لومړی د خوراک او څښاک لپاره بېړه کوي او تر هغه ژړا ته دوام ورکوي، تر څو خواړه ترلاسه کړي. انسان یوازې د خوراک په برخه کې بېړه نه کوي؛ بلکې په تګ راتګ، ناستې ولاړې، خبرو اترو، پېر او پلور، غم او ښادۍ او د ژوند په ټولو چارو کې له بېړې او تادۍ څخه کار اخلي او د هر چا په خوله همدا خبره وي، چې ژر شه، بېړه کوه! خو د بېړې له زیانونو او پایلو نا خبره دي. که څه هم موږ ټول د خپل ژوند په اوږدو کې د بېړې له امله له ډېرو ستونزو سره مخ شوي یو او حتی د سترو پښېمانیو ښکار شوي یو، تر دې چې خپلې موخې مو له لاسه ورکړې دي.

پر ځای دې چې انسان د یو نیک کار یا د بل چا سره د خیر په موخه بېړه وکړي، برعکس ډېر کله په ناروا کارونو کې له سره په مرسته کې بېړه کوي. له سهاره تر ماښامه یې ټولې هلې ځلې او منډې رامنډې د بې ځایه بېړې ښکار وي. په دې اړه صالح علیه السلام خپل قوم ته وایي: قَالَ يَٰقَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ ۖ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ.

**ژباړه:** صالح (علیه السلام) وویل: "اې زما قومه! له نېکۍ څخه مخکې د بدۍ لپاره ولې تلوار کوئ؟ ولې له الله تعالی څخه بښنه نه غواړئ؟ ښایي چې پر تاسې رحم وشي.(سُوْرَةُ النَّمل :۴۶)

د شرح السنة للبغوي کتاب د عجلې یا د بېړې ځینې لاملونو او د هغو منفي پایلو په اړه بحث کوي:



۱. د بېړې لومړی لامل دا دی چې انسان په خپلو کړنو کې عواقبو ته پام نه کوي، چې کون او ازل کې لیکل شوي.
یعنې انسان چې بې له سوچ او غور څخه عمل کوي، د هغه عملونه ممکن منفي پایلې ولري.
۲. دویم لامل د شیطان وسوسه ده، چې انسان ته د بېړې کولو وسوسه
وراچوي؛ ځکه چې شیطان د انسان دښمن دی، چې له دې سره انسان د خپلو عملونو په اړه د پوره سوچ او تحلیل کولو فرصت نه لري.
۳. أساس العجلة من الشیطان: بېړه د شیطان له وسوسې سرچینه اخلي، ځکه چې شیطان د انسان د فکر کولو او د عواقبو تحلیل کولو مخه نیسي. یاده کړنه د انسان له پاره د فشل (ناکامۍ) او هلاکت لامل کېږي.(شرح السنة للبغوي ۱۳/۱۷٦).
داسې نه شو ویلی، چې هره بېړه او چټکتیا ناسمه ده؛ بلکې په پنځو ځاینو کې بېړه او عجله اړینه ګڼل شوې، لکه ابو نعیم رحمه الله په خپل کتاب الحلیه کې د حاتم الاصم رحمه الله له قوله روایت کوي:
په پنځو ځاینو کې بېړه غوره ده: میلمه ته ډوډۍ ورکول، مړی خښول، پیغله نجلۍ ژر ودول، قرض ادا کول او پنځم یې هم د ګناه څخه توبه ویستل ښودلي دي. (الحلیة لابي نعیم ۸/ ۸۲. طریقة محمودیه شرح طریقة المحمدیه ابو سعیدالخادمي الحنفي. ۳/ ٦۳).
له یادو کړنو څخه پرته بېړه کول د اخلاق مذمومه څخه ګڼل کېږي. که چېرې په دنیوي امورو پورې تړاو ولري دې ته عجلت مذمومه وايي؛ ځکه چې په دنیوي کړنو کې فکر ته اړتیا وي، په عاقبت او انجام باندې یې علم نه لري:
وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِمُ الْمَثُلَٰتُ ۗ ژباړه: دوی له نېکۍ څخه مخکې د بدۍ لپاره تلوار کوي. په داسې حال کې چې له دوی څخه مخکې د عبرت وړ مثالونه تېر شوي دي (سُوْرَةُ الرّعد : ٦).
څرنګه چې څرګنده شوه، دنیوي بېړه شیطاني کړنه او خورا زیانمنه ده، اما په اخروي امورو کې په بنسټیزه توګه مذموم نه ګڼل کېږي، لکه قرآن عظیم الشان کې چې راځي: وَسَارِعُوٓا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ.
**ژباړه:** پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ چې ستاسې د پروردګار د بښنې او د هغه جنت خوا ته تللې ده (سُوْرَةُ آل عِمرَان : ۱۳۳). فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَٰتِ ۚ
**ژباړه:** نو تاسې د ښېګڼو په لوري په ځغاسته شئ.(سوره بقره: ۱۴۸)
نن ورځ هر تن او هر وګړی په بېړه او تادۍ کې را لوی شوی؛ خو د دې له منفي اثر او اغیزې څخه ځان نه خبروي، چې یوهستره بېلګه یې د موټرو سرعت او بې باکي ده، چې د یو موټر چلوونکي د بې باکۍ او بېړې له کبله د هېواد ډېرې میرمنې کونډې او کوچنیان یتیمان کړل، څوک یې په بدن نیمګړي او چا د بدن غړي له لاسه ورکړل.
باید له تلوار او بېړې څخه ډډه وکړو، چې دا یو ناوړه کړنه ده، زموږ د ژوند ټولې چارې ورسره نیمګړې شوې او د سترو پښېمانیو لامل ګرځېدلي یو. یو شاعر وايي:

**یا صاحبي تلوما لا تعجلا — إن النجاح رهین أن لا تعجلا**

ای زما دوسته! پښېمانه کېږې بېړه مه کوه؛ ځکه بریا په دې پورې تړلې چې بېړه مه کوه.





# غلبه بر ترس از پرواز در طیاره

ترس از پرواز یک پدیده رایج است که می‌تواند هر فردی را تحت تأثیر قرار دهد؛ فارغ از سن، جنسیت یا میزان سفرهای هوایی. این ترس حتی شامل افرادی می‌شود که به طور مداوم سفر می‌کنند. باوجوداینکه آمارها نشان می‌دهد سفر هوایی امن‌ترین روش حمل‌ونقل در جهان است، اما این اطلاعات برای بسیاری از افراد کافی نیست تا بر ترس خود غلبه کنند. در این میان، دو تن از پیلوتان (فابین سونیوس و تیمو وبر) روش‌های ارائه داده‌اند که به مسافران کمک می‌کند با این اضطراب مقابله کنند.

## چرا برخی افراد از پرواز می‌ترسند؟

این نوع ترس از دیدگاه مفهومی قابل توضیح است. انسان‌ها به حرکت آزاد در سطح زمین عادت دارند، اما نشستن در یک کابین بسته با صدها مسافر دیگر و حرکت در ارتفاع هزاران متری، وضعیتی غیرطبیعی برای بدن انسان محسوب می‌شود. برخلاف زمین، هوا عنصری ناشناخته است که حواس ما نمی‌توانند آن را درک کنند. این حس ناشناخته باعث می‌شود افراد به‌طور ذاتی تمایل به استفاده از وسایل نقلیه زمینی مانند قطار یا بس داشته باشند، حتی اگر این گزینه‌ها از نظر آماری بسیار خطرناک‌تر از پرواز باشند. علاوه بر این، بسیاری از افراد تحت تأثیر اخبار مربوط به حوادث هوایی قرار می‌گیرند و تصور می‌کنند که این سوانح بیش از آنچه که در واقعیت اتفاق می افتد، رخ می‌دهند.

## آیا آشفتگی‌های هوایی (توربولانس) خطرناک است؟

یکی از نگرانی‌های اصلی مسافران هنگام پرواز، مواجهه با آشفتگی‌های هوایی است. در حالی که این آشفتگی های هوایی هرگز باعث سقوط یک طیاره نشده است. اگرچه ممکن است تکان‌های طیاره برای برخی مسافران ترسناک باشد، اما این تکان‌ها هیچ خطری برای ساختار طیاره ایجاد نمی‌کنند. طیاره‌ها برای تحمل شدیدترین شرایط آب‌وهوایی طراحی شده‌اند و تنها خطری که در آشفتگی‌های هوایی وجود دارد، عدم بستن کمربند ایمنی یا

مصؤن نبودن وسایل همراه مسافران است. دانستن این حقیقت که "هیچ طیاره‌ای تاکنون به‌دلیل آشفتگی‌های هوایی سقوط نکرده است"، می‌تواند تا حد زیادی از نگرانی‌های مسافران بکاهد.

آیا مصرف ادویه برای غلبه بر ترس از پرواز مفید است؟

برخی افراد برای کاهش استرس ناشی از پرواز ادویه‌های آرام‌بخش مصرف می‌کنند، اما کارشناسان معتقدند که این روش نه‌تنها مشکل را حل نمی‌کند، بلکه می‌تواند آن را تشدید کند. این ادویه‌ها فقط علائم ترس را سرکوب می کنند و فرد را از تجربه طبیعی کاهش اضطراب در طول پرواز محروم می‌سازند. به گفته کارشناسان، بهترین راه مقابله با ترس از پرواز، درک راه‌وروش ایمنی طیاره و یادگیری روش‌های آرام‌سازی است.

## راهکارهای عملی برای غلبه بر ترس از پرواز

آگاهی از واقعیت‌های علمی درباره پرواز می‌تواند تأثیر بسزایی در کاهش اضطراب داشته باشد. تمرین‌های تنفسی و روش‌های آرام‌سازی می‌توانند به کنترل ترس کمک کنند. از دیگر توصیه‌های مهم، اطلاع‌رسانی به خدمه پرواز درباره اضطراب شما است. مهمانداران برای چنین شرایطی آموزش دیده‌اند و می‌توانند با توضیح شرایط و ایجاد آرامش، به مسافران مضطرب کمک کنند.

متخصصان توصیه می‌کنند که به جای سرکوب ترس، آن را بپذیریم و برای مدیریت آن از روش‌های مؤثر استفاده کنیم. همچنین، تمرین‌های تنفسی، حرکات کششی در طول پرواز و گفت‌وگو با مهمانداران از دیگر راهکارهای مفید هستند.

تهیه کننده: عزیزالرحمن فراجغانی

# د سوېلي کوريا په موان هوايي ډګر کې لويه مرګونې پېښه

د ۲۰۲۴ز کال د ډسمبر په ۲۹مه نېټه د جېجو هوايي شرکت (Jeju Air) يوه بوينګ (۷۳۷-۸۰۰) ډوله الوتکه د موان هوايي ډګر(Muan International Airport)) کې د ناستې پر مهال له ځغاستليکې ووته او له محافظتي ديوال سره د ټکر له کبله يې اور واخېست او پکې سپارو ۱۸۱ سپرليو څخه يوازې دوه د عملې غړي پکې ژوندي پاتې شول. د لومړنيو معلوماتو پر بنسټ ياده الوتکه د خرابې هوا او د مرغانو سره د ټکر له کبله له ځغاستليکې څخه وتلې او دا خونړۍ پېښه رامنځته شوه.

دا پېښه د جېجو هوايي شرکت چې په ۲۰۰۵ز کال کې رامنځته شوی دی، لومړۍ مرګونې پېښه وه او موان هوايي ډګر هم چې د سوېلي کوريا له پلازمينې (سيول) څخه نږدې ۲۸۸ کيلومترۍ کې پروت دی د دغه هېواد د هوايي چلند صنعت د الوتنې خونديتوب په برخه کې خورا ښه نوم هم لري.

همدارنګه په متحده اياالتو دلتا هوايي شرکت يوه مسافروړونکي الوتکه چې له مېنيسوتا ايالت څخه کاناډا ته روانه وه، د تورنټو هوايي ډګر کې د ناستې پر مهال چپه او په بل مخ واوښته، چې د اتياوو کسانو له ډلې څخه پکې ۲۱ تنه برسېرن ټپيان شول. له دې پېښې وروسته دلتا هوايي شرکت اعلان وکړ، چې هر مسافر ته ۳۰زره ډالره ورکوي د يادو پېښو تکرار دا ثابتوي چې که څه هم ټېکنالوژي ورځ تر بلې پرمختګ کوي، خو انساني تېروتنه، خراب شرايط، او حتا ممکنه قصدي مداخلې کولای شي د سلګونو بې‌ګناه انسانانو ژوند له ګواښ سره مخ کړي. منځه يوسي.





# د اوبو شیندل د خوشبختۍ، درناوي او روښنايۍ نړيوال سېمبول

د اوبو شیندل یو ښکلی، سمبولیک او په زړه‌پورې کلتوري دود دی، چې د نړۍ د نورو فرهنگونو تر څنگ په افغاني فرهنگ کې هم د خوشبختۍ، روښنايۍ او درناوي استازیتوب کوي. د رڼو اوبو ارزښت زموږ د فرهنگي روايتونو، کليوالي دودونو او حتی ديني ارزښتونو سره تړلی دود دی؛ ځکه چې اوبه د پاکۍ، سوکالۍ او نېکمرغۍ نښه گڼل کېږي. زموږ په کليوالي ټولنو کې، کله چې يو مسافر د سفر لپاره روانېږي، د کورنۍ غړي رڼې اوبه پسې شيندي، ترڅو سفر يې خوندي، بختور او په مخه يې رڼا وي. اوس گورو چې دا دود نه يوازې په کليو او بانډو کې ترسره کېږي؛ بلکې تر نړيوالو هوايي ډگرونو پورې پراخ شوی دی.

کله چې يوه نوې هوايي کرښه الوتنې پيل کړي، يوه الوتکه خپله وروستۍ الوتنه ترسره کړي، يا يو تجربه‌کار پيلوټ له دندې تقاعد شي، د هوايي ډگر د اوروژنې موټرونه د الوتکې دواړو خواوو ته درېږي او د اوبو يوه ښکلې ليندۍ جوړوي، چې د درناوي، روښنايۍ او برکت ښکلی سمبول گڼل کېږي. ويل کېږي چې دا دود له سمندري چلند څخه هوايي چلند ته راغلی، په سمندر کې کښتۍ ته د لومړي يا د وروستي سفر نمانځلو لپاره پر هغې اوبه شيندل کېږي، څو د عملې خدمت ته درناوی وشي او د سمندر د څپو په ژبه ورته سلام او يا هم د خدای پامانۍ پيغام واستول شي. اوس دا دود د نړۍ په گڼو هوايي ډگرونو کې د الوتکو او پيلوټانو لپاره ترسره کېږي، چې د هوايي چلند د همغږۍ او ارزښتونو ځرگندونه کوي.

همداراز د پيلوټانو لپاره د اوبو شيندلو يو جلا دود هم شته، چې کله يو نوی پيلوټ د روزنې دوره بشپړه کړي او خپله لومړنۍ خپلواکه الوتنه ترسره کړي، د نمانځنې، بريا او تشويق په موخه پر هغه رڼې او سړې اوبه شيندل کېږي. دا يو ځانگړی رسم دی، چې د نوي پيلوټ لپاره د يوه مهم پړاو د پای ته رسېدو استازيتوب کوي، ترڅو په دې سره له هغه سترس کم شي او دا احساس ورکړل شي، چې له دې وروسته دې د يو مسلکي پيلوټ په توگه خپلواکې الوتنې ترسره کوي.

که څه هم دا دود د خوشحالۍ، بريا او درناوي يوه ښکلې نښه ده؛ خو د اوبو د ضايع کېدو له امله پرې نيوکې هم شوې دي. له همدې امله ځينې هوايي شرکتونه هڅه کوي چې دا دود له بديلو لارو ترسره کړي، چې په دې سره هم دود ژوند ساتل شوی وي او هم د طبيعي سرچينو د ضايع کېدو مخه نيول شوې وي.

په ټوله کې د الوتکو او پيلوټانو لپاره د اوبو شيندلو دا ساده عمل د درناوي، نيک شگون او بريا د جشن نيولو يو نړيوال دود دی، چې نه يوازې د هوايي چلند صنعت ته يو ځانگړی رنگ ورکوي، بلکې د وگړو د فرهنگي ارزښتونو سره هم ژور تړاو لري.



# هوايي ډګر کې د څار برج (Control Tower)

د هوايي ډګر د څار برج دُ هوايي ترافيک تنظيمولو لپاره يوه اساسي او بنسټيزه وسيله ده. دا برج د ټولو الوتنو د امنيت، نظم او موثريت لپاره مهم دی. د هوايي ترافيک د څار برج د هوايي ډګرونو په شاوخوا کې د الوتکو حرکتونه څاري او د الوتنو لپاره اړينې لارښوونې کوي، تر څو د ټکرونو او نورو خطرونو مخنيوی وکړي. د دې برج کارکوونکي د الوتکو د ناستې او پورته کېدو پروسې ته پاملرنه کوي، تر څو د هوايي ډګر عملياتي جريان په خوندي توګه ترسره شي.

د هوايي ډګر د څار برج په هوا کې د الوتکو د حرکت څارلو تر څنګ په عملياتي ساحه کې د اجازه لرونکو وسايطو تګ راتګ هم څاري، چې په دې کې د الوتکو تمځايونه، ټکسي لاينونه او ځغاستليکه شامل دي. دا ټول د دې لپاره دي چې هر څه په سم وخت او منظم شکل ترسره او د الوتکو، مسافرينو او پيلوټانو امنيت ډاډمن شي.

د هوايي ترافيک څار برج د هوايي ډګر د عمومي عملياتو لپاره د يو خوندي، منظم او کارنده چاپيريال د رامنځته کولو په برخه کې بې سارې اهميت لري. د ياد برج کارکوونکي نه يوازې الوتکو ته لارښوونه کوي؛ بلکې د ټول هوايي او ځمکنۍ ترافيک د بې نظمۍ مخنيوی او د امنيت په برخه کې کليدي تصميمونه نيسي، چې په دې سره څار برج د هوايي ډګرونو د عملياتو او خونديتوب په بهير کې حياتي ارزښت لري.

## د هوايي ترافيک د څار برج مسئوليتونه:

د هوايي ترافيک د څار برج د هوايي چلند په امنيت او همغږۍ کې مهم رول لوبوي. دغه برجونه په عمده توګه د هوايي حريم د مديريت او الوتنو تر منځ د همغږۍ په موخه کار کوي. د هوايي ترافيک څارونکی هرې الوتکې ته لارښوونې کوي، تر څو الوتنې په خوندي او مؤثر ډول ترسره شي.

## د څار برج دندې په لاندې ډول واضح کولی شو:

۱. کله چې الوتکه د يوه هوايي ډګر څخه پورته کېږي يا تر هغې چې بېرته په هوايي ډګر کې ناسته کوي، د څار برج څارونکي د الوتکې حرکت په دقت سره څاري او د هوايي حريم په محدودو حوزو کې د الوتنو لپاره خوندي تګلارې تضمينوي.

۲. د څار برج څارونکی هوايي ترافيک د څارنې او ډله بندۍ دندې ترسره کوي او د هوايي ترافيک له درلودو سره سم، د الوتنو تر منځ خوندي فاصله رامنځته کوي، ترڅو له يو بل سره

ټکر و نه کړي.
۳. د هوايي شرايطو تحليل او د هغوی په اړه تصميم نيول هم د هوايي ترافيک د څار برج کارکوونکو دنده ده. د هوايي شرايطو بدلون لکه باد، باران، د ليد فاصله او داسې نور مهم نقاط د الوتنو د سم مديريت لپاره مهم دي. د څار برج څارونکي د دې معلوماتو پر اساس د الوتکو د الوتنو لارې او مسيرونه تطبيقوي او وخت په وخت پيلوټانو ته د هوايي شرايطو په اړه تازه او نوي معلومات ورکوي.
٤. د بيړنيو حالاتو مديريت د هوايي ترافيک د څار برج يوه مهمه دنده ده. کله چې کومه الوتکه بيړني حالت ته ورسېږي، د څارونکو دنده ده، چې ژر او سم تعامل وکړي، د بېړنۍ پېښې په رامنځته کېدو د څار برج څارونکی د پیلوټانو سره همکاري کوي او اړونده ادارو ته خبر ورکوي.
٥. د الوتنو پيل او پای هم د څار د برج دنده ده. د څار برج کارکوونکي د هوايي ډګر د الوتنو لپاره ټول تدابير تنظيموي. کله چې يوه الوتکه له ځمکې پورته يا ښکته کېږي، څارونکي د هغې لپاره لارښوونې، مسير او ځمکې ته يې د رسيدو وخت تنظيموي.
٦. د ټکنالوژۍ استعمال هم د هوايي ترافيک د څار برج دنده ده. د عصري ټکنالوژۍ لکه رادار، د موقعيت پيداکولو سيستم (GPS)، د مخابرو سيستمونه او داسې نورو وسيلو پر مټ د څار برج کارکوونکو ته د الوتنو په اړه دقيق او پر وخت معلومات ورکول کېږي. د دې وسايلو څخه استفاده د هوايي ترافيک د موثريت او امنيت لپاره اړينه ده.
بايد يادونه وشي چې د هوايي ترافيک د څار د برج کارکوونکي يوازې د هوايي ترافيک نه؛ بلکې د ځمکني ترافيک تنظيم او مديريت هم کوي. د هوايي ډګر په عملياتي ساحه کی د اور وژنې ډلې، ټول خدماتي او د مصؤنيت وسايط بايد د کنټرول ټاور يا څار برج له اجازې پرته حرکت ونه کړي، تر څو د ځمکني ترافيک نظم وساتل شي او د ټکر مخه ونيول شي.

## د هوايي ترافيک د څار برج څارونکي منصبونه:

یو د مهمو بحثونو څخه د څار برج منصبونه دی، چی مسلکي کسان د الوتکو او ځمکنی وسايطو حرکتونه تر ټاکل شوو حدودو پورې مديريت کوي او پيلوټانو ته مسؤلانه لارښونې کوی، تر څو د ځمکني او هوايی ترافيک لپاره بشپړ خونديتوب او مؤثريت تضمين کړل شي. نو راځی چی د څار برج هغه څارونکي منصبونه مطالعه کړو، چی د هوايي ترافيک د تنظيمولو لپاره حياتي رول لري.

## د هوايي ډګر څارونکی يا محلي څارونکی (Aerodrome Controller or Local Controller)

د هوايي ډګر څارونکی (محلی څارونکی) د څار د برج تر ټولو مهم او اړين کس بلل کېږي، چې د ځغاستليکې ټول فعاليتونه تنظيموي. د هرې الوتکې لپاره د پورته کېدو او ښکته کېدو اجازه ورکوي. هره الوتکه بايد د دوی له لارښوونو پرته يو متر هم حرکت ونه کړي. د دوی پرېکړې بايد دقيقې، حساب شوې او چټکې وي؛ ځکه چې يوه کوچنۍ تېروتنه هم کولی شي يو لوی ناورين رامنځته کړي.

## د ځمکني حرکاتو څارونکی (Ground Controller)

د الوتکو هر حرکت، چې له تمځای څخه ځغاستليکې ته يا له ځغاستليکې تم ځای ته وي، د دوی تر مستقيم کنټرول لاندې دی. دوی د هرې الوتکې لپاره د حرکت ځانګړې لاره ټاکي، تر څو د ټکرونو، ګډوډيو او احتمالي ستونزو مخه ونيسي. حتا د خدماتي وسايطو( لکه د تېلو ټانکرونه، اطفايې او د سامان انتقالوونکي) ټول حرکتونه د دوی له منظمو امرونو پرته ناممکن دي.

## د اجازې ورکولو کنټرولر(Clearance Delivery Controller)

له دې مخکې چې یوه الوتکه خپل ماشینونه چالان کړي، باید د یاد کس له خوا د الوتنې رسمي اجازه ترلاسه کړي. دوی پیلوټانو ته د الوتنې لاره، ارتفاع، هوایي دهلېز او د اړتیا وړ نور تخنیکي معلومات ورکوي. دا څارونکی د الوتکې د ټول سفر لپاره لومړنی پلان جوړوي او ډاډ ترلاسه کوي، چې هر څه له نړیوالو مقرراتو او قوانینو سره سم دي. که څه هم د دوی دنده یوازې د څو دقیقو لپاره ترسره کېږي؛ خو د دوی معلومات د الوتنې د خوندیتوب لپاره حیاتي ارزښت لري.

## د الوتنې د معلوماتو څارونکی( Flight Data Controller)

په څار برج کې یو داسې مهم غړی هم شته، چې مستقیماً الوتکې نه کنټرولوي؛ خو د ټولو کنټرولرانو لپاره د حیاتي معلوماتو سرچینه ګڼل کېږي. د الوتنې د معلوماتو څارونکي د هرې الوتنې د معلوماتو ثبت، د الوتکو د مسیرونو همغږي او د هوایي ترافیک د تغیراتو څارنه کوي. دوی هغه کسان دي، چې د څار برج د څارونکو پرېکړو لپاره اړین تخنیکي معلومات برابروي. که په هوا کې ناڅاپي تغییر راشي، د هوایي ترافیک حجم زیات شي، یا کومه بېړنۍ پېښه رامنځته شي، دوی د برج د څارونکو لپاره تازه معلومات چمتو کوي، ترڅو هره پرېکړه پر وخت او دقت سره وشي.

## د څارونکو مدیر یا سوپروایزر (Supervisor)

د څار برج تر ټولو تجربه کار غړی، د څارونکو مدیر (سوپروایزر) دی، چې د ټولو څارونکو فعالیتونه څاري. دوی د ترافیک د زیاتوالي پر مهال د هوایي ترافیک د څارونکو ترمنځ دندې ویشي، د ستونزو د حل لپاره چټک تصمیم نیسي او د بیړنیو حالاتو پر مهال د ټولو عملیاتو مسئولیت پر غاړه لري. د دوی رول د څار برج د ټولو غړو ترمنځ د یووالي او همغږۍ رامنځته کول دي، ترڅو هره الوتنه له ستونزو پرته ترسره شی.
هر کله چې یوه الوتکه له ځمکې هوا او یا له هوا څخه د ځمکې لور ته خپل حرکت پیل کړي، د څار برج کارکوونکي یې له صعوده تر نزوله څاري. دوی د هوایي ترافیک د تنظیم ناپېژندل شوي اتلان دي، چې په خورا لوړ تمرکز، دقیقو پرېکړو او بې ساري مهارت سره د زرګونو مسافرینو ژوند د خوندیتوب زیری ورکوي. د دوی یو غلط امر یا کوچنۍ تېروتنه کولی شي یوه ستره غمیزه رامنځته کړي.

## د هوایي ترافیک د څارونکي برج واکونه:

د څار برج پیلوټانو ته د رڼو سترګو حیثیت لري، چې د الوتکو تګ راتګ، د بادونو شور او د الوتنو تنظیم په خورا عالی تمرکز، دقیق مهارت او بشپړ ډاډ ترسره کوي. دا ستراتیژیکه نقطه د هوایي ډګر زړه بلل کېږي، د هوایي ترافیک څارونکی د لوړ مهارت، ژور تمرکز او د بې سارې پاملرنې پر مټ د زرګونو مسافرو ژوند ته خوندیتوب وربښي.
د څارونکي برج صلاحیت دا دی چې د هوایي ډګر د ځغاستلیکې او ټکسوې وضعیت وڅاري، د خرابو شرایطو، میخانیکي ستونزو یا نورو احتمالي خطرونو په صورت کې تدابیر ونیسي او د اړینو تصمیمونو لپاره اړونده ادارو ته خبرداری ورکړي.
د څار برج کارکوونکي د پیلوټانو سره په راډیویي اړیکو کې وي او دوی ته د هوایي ډګر د شرایطو، د موسمې بدلونونو، د الوتنې وختونو او د بدیلو لارو په اړه مهم معلومات ورکوي. دا اړیکه باید روښانه، دقیقه او هېڅ ډول غلط فهمي و نه لري؛ ځکه چې یو غلط پیغام کولای شي د ناورین لامل شي.
هوایي ترافیک مدیریت یوازې د یوه هوایي ډګر تر چوکات پورې محدود نه دی؛ بلکې د نورو نږدې هوایي ډګرونو، هوایي حریم او نړیوالو الوتنو سره همغږۍ ته هم اړتیا لري. د څار برج د دې مسؤلیت لري چې د هرې الوتکې مسیر د نورو الوتنو سره همغږی کړي، تر څو د ټکر، احتمالي پېښو او ګډوډیو مخه ونیول شي.

حمیدالله بارکزی (د احمدشاه بابا نړیوال هوایی ډګر د څار برج فني غړی)




# د هوايي ډګر ترمينل، مسافرو ته لارښوونې او اسانتياوې

ترمينل چې د مسافرو د سفر لپاره اسانتياوې او خدمتونه وړاندې کوي، د هوايي ډګر له مهمو برخو څخه شمېرل کيږي او دا هغه ځای دی چې مسافر د الوتنې څخه مخکي يا وروسته پکې تم کېږي. په ترمينلونو کې ټول هغه اړين خدمتونه لکه د ټکټونو پلورل، امنيتي پلټنه، بار وړل او نور شامل دي.

**د يو نړيوال هوايي ډګر ترمينل پر دوه ډوله وي: محلي ترمينل او نړيوال ترمينل.**

## ۱. محلي ترمينل (Domestic Terminal)

محلي ترمينل د هغو مسافرينو لپاره دی، چې په کورنيو يا داخلي سفرونو کې برخه اخلي. که څوک د هېواد د ننه له يوه ولايت څخه بل ته سفر کوي، هغه محلي ترمينل ته مراجعه کوي.

## ۲. نړيوال ترمينل (International Terminal)

نړيوال يا خارجي ترمينل د هغو مسافرينو لپاره دی، چې غواړي له هېواده بهر سفر وکړي. په دې ترمينل کې هغه ټول خدمات شته، چې د يو نړيوال سفر لپاره اړين وي.

## په ترمينل کې د مسافرينو لپاره مهمې لارښوونې:

**علامې او نښې:** کله چې تاسو ترمينل ته ننوځئ، و به ګورئ چې روښانه نښې ښکاري، چې مسافرو ته د تګ راتګ، امنيتي پلټنې، دروازې او نورو برخو لارښوونه کوي.

**امنيتي تدابير:** مسافرين بايد خپل لاسي توکي او د سفر اړين اسناد لکه ټکټ، پاسپورټ او نور په لاس کې ولري او د امنيتي تفتيش (تلاشۍ) څخه تېر شي.

**د معلوماتو مراکز:** ډېری ترمينلونه د معلوماتو مراکز هم لري، چې مسافرين کولی شي د الوتنو، امنيت او نورو اړوندو مسايلو په اړه مهم معلومات ترلاسه کړي.

**د خوراک او څښاک اسانتيا:** د هوايي ډګر په ترمينل کې د مسافرو د اسانتيا لپاره کيفيتيريا، رسټورانټ، جومات او نور خدمات موجود دي.

**د بار وړلو لارښوونې:** مسافرین باید د خپلو توکو د بار محدودیتونو او قواعدو په اړه معلومات ترلاسه کړي. عموماً هوايي ډګرونه د سامان د اندازه کولو او وزن معلومولو لپاره ځانګړي ځایونه لري.

**د ټرانسپورټ اسانتیا:** هوايي ډګرونه د ټرانسپورټ اسانتیا لکه بسونه، ټکسۍ او ځینې وخت نور ټرانسپورټي سیستمونه لکه میټرو لري، ترڅو مسافرین خپلو منزلونو ته په اسانه او پر وخت ورسېږي.

**صحت او خوندیتوب:** په ترمینل کې روغتیایي خدمات او د لومړنۍ مرستې ځایونه هم وي، چې د اړتیا پر مهال ترې مرسته ترلاسه کولی شي.

**د نړیوالو خدمتونو وړاندې کول:** لکه د پیسو تبادله (صرافي)، د سیم کارټ ترلاسه کول او نور...

**د انتظار ساحې:** مسافرو ته انتظارځایونه، ترڅو د الوتنې تر وخته پکې پاتې شي.

**د ګمرک خدمتونه:** د نړیوالو مسافرو لپاره، ګمرکي پلټنه او د اجناسو راپور ورکول اړین دي.

په پای کې باید ووایو چې د هوايي ډګر ترمینل، که هغه محلي یا خارجي، هر یو یې ځانګړي خدمات او اسانتیاوې لري چې مسافر یې باید د سفر په پروسه کې په دقت سره تعقیب کړي.

احمد یاسر لودین (د هوايي چلند د اطلاعاتو NOTAM مدیر)



# وزا د ټرانسپورټ او هوايي چلند
# کړنې او لاسته‌راوړنې

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ۱۴۰۳ل کال په څلورمه ربع کې چې کومې کړنې او لاسته راوړنې ترسره شوې دي، ځینې یې دلته لوستلی شئ!









- د افغانستان هوايي ډګرونه او پرمختګونه
- د ملي تدارکاتو کمېسيون لخوا د ټرانسپورټي پروژو منظورېدل
- اقدامات مهم برای توسعه تسهیلات ترانسپورتی در ولایات مختلف
- په هلمند او سمنګان ولايتونو کې د ټرانسپورټي تاسیساتو جوړولو په موخه د ځمکو لېږد
- د يو کال په موده کې تخنيکي چک پروسه

ترانسپورت و هوانوردی

# فعالیت‌ها و دست‌آوردها








- د ۱۴۰۳ل کال ښوونيز پراګرامونه
- د هوايي چلند انسټيټيوټ او د مسلکي کدرونو روزنه
- د درېيو مياشتو په موده کې د ځينو ترسره شويو غونډو، لېدنو او کړنو لنډ خبرونه
- د افغانستان ځمکني ټرانسپورټ او ټرانزيټ په برخه کې د ۱۴۰۳ لمريز کال لاسته راوړنې
- فراز و فرود هوانوردی افغانستان در سال ۱۴۰۳؛ گامی بسوی پیشرفت و خودکفایی



# د افغانستان هوايي ډګرونه او پرمختګونه

په وروستیو کلونو کې د افغانستان د هوايي چلند سکتور د پام وړ پرمختګونه کړي، چې د هیواد د اقتصادي ودې او نړیوالو اړیکو د پراختیا لپاره یو مهم ګام دی. ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د نړیوالو هوايي ډګرونو تر څنګ د محلي هوايي ډګرونو بیارغونې، معیاري کولو او د امنیتي تدابیرو د پیاوړتیا لپاره پراخې هڅې کړې، چې د هوايي ټرانسپورټ خدماتو ته یې نوی رنګ ورکړی دی.

## په لښکرګاه هوايي ډګر کې د رغنیزو چارو چټکتیا

لښکرګاه هوايي ډګر د ۱۳۰۰ مترو په اوږدوالي د چاپېرېدونکي دېوال د جوړولو چارې پیل شوې دي، چې څه کم ۸ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي، د دې تر څنګ پکې د رمپ او ځغاستلېکې د بیارغونې چارې هم روانې دي، چې له بشپړېدو سره به لویې الوتکې د دې هوايي ډګر له خدماتو ګټه واخلي.

## د کابل–خوست تر منځ د الوتنو پیل او مسافرو لپاره اسانتیاوې

د کام ایر هوايي شرکت لخوا د کابل او خوست تر منځ دوه طرفه الوتنې پیل شوې، چې په اونۍ کې به دوه ځله ترسره کېږي. دا الوتنې د خوست او لویې پکتیا سیمې اوسېدونکو لپاره د پام وړ اسانتیاوې رامنځته کوي، د سیمې د سوداګرۍ او اقتصاد پر ودې به مثبت اغېز ولري.

## کابل نړیوال هوايي ډګر کې څو مهمې پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل

د کابل نړیوال هوايي ډګر عمومي رئیس مولوي عبدالهادي محمد او د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د یو شمېر نورو مسؤلینو په حضور کې، د یاد هوايي ډګر درې مهمې پروژې چې ټولټال ۲۰ میلیونه افغانۍ لګښت پرې شوی، بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

دا پروژې د هوايي ډګر د عمومي دروازې جوړول، د منوپل سایټ رامنځته کول او د فایبر نوري شبکې پراخول شامل دي، چې ټول لګښت یې یوه خصوصي شرکت تمویل کړی دی. د دې پروژو پلي کېدل به د هوايي ډګر په اسانتیاوو، امنیت، او ټکنالوژۍ کې د پام وړ پرمختګ رامنځته کړي.

## بسشن هوايي ډګر کې د لمریزې برېښنا سیستم

د هلمند ولایت د بسشن هوايي ډګر لپاره د لمریزې برېښنا سیستم رامنځته شو، چې د هوايي ډګر د برېښنا ستونزې به ورسره حل او د هوايي ډګر د پیاوړتیا او خدماتو کې به یې لا ښه والی رامنځته شي.




# د مولانا جلال‌الدین محمد بلخي نړیوال هوایي ډګر د پرمختګ لپاره مهم ګامونه

د بلخ ولایت مولانا جلال‌الدین محمد بلخي نړیوال هوایي ډګر د اسانتیاوو برابرولو او معیاري کېدو په موخه د ۷۳ میلیونه افغانیو په ارزښت دوه مهمې پروژې پیل شوې دي. د دې پروژو له مخې به د مسافرو لپاره یو معیاري انتظارځای او د ۱۰۰۰ موټرو ظرفیت لرونکی پراخ تمځای جوړ شي، چې چارې به یې د ۱۴ میاشتو په موده کې بشپړې شي. همداراز د یاد هوایي ډګر په عملیاتي برخه کې د غږیزو اعلانونو اته‌چینله اله (PA System) فعاله شوې، چې مسافرو ته د الوتنو، لارښوونو او مهمو معلوماتو د رسولو لپاره کارول کېږي. تر څنګ یې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د تخنیکي ټیم په همکارۍ د الوتکو د لارښوونې پرمختللې اله (DVOR/DME) او د (PAPI) ځانګړي څراغونه هم فعال کړي دي. دا سیستمونه د الوتکو په خوندي ناسته او الوتنه کې مهم رول لري.

په دې چارو سره به د مسافرو د سفر اسانتیاوې زیاتې، د هوایي ډګر مدیریت او معیاري خدمتونه به لا پیاوړي شي.



## ترینکوټ هوایي ډګر کې امنیتي تدابیر پیاوړي شول

د اروزګان ولایت ترینکوټ هوایي ډګر د امنیت او خوندیتوب په پار د ۴ زرو مترو په اوږدوالي او ۳ مترو په لوړوالي د چاپېربدونکي دېوال پروژه د ۹ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.




# د خواجه عبدالله انصاري نړیوال هوايي ډګر د پرمختګ لپاره مهم ګامونه



په هرات کې د خواجه عبدالله انصاري نړیوال هوايي ډګر د امنیتي تدابیرو د پیاوړتیا او خوندیتوب د ښه والي په موخه د هوايي ډګر د چاپېربېدونکي دېوال د جوړولو چارې د ٦ میلیونه افغانیو په لګښت رواني دي او د دې تر څنګ د یاد هوايي ډګر د اوروژنې ټیم ته د مسلکي روزنې ځانګړی پروګرام پیل شوی، تر څو د بېړنیو پېښو پر مهال چټک غبرګون وښيي. یادې کړنې به د هوايي ډګر امنیت او خدمات لا معیاري او پرمختللي کړي.

## د ځینو نړیوالو هوايي شرکتونو له استازو سره ناسته وشوه

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هوايي چلند عملیاتي معین الحاج مولوي فتح‌الله منصور د ځینو نړیوالو هوايي شرکتونو له استازو سره په یوه ناسته کې د مسافرو لپاره د لا زیاتو اسانتیاوو برابرولو، د کابل نړیوال هوايي ډګر د هوايي ټرانسپورټي خدماتو د ښه والي او د هېواد د هوايي ټرانسپورټ د خدماتو په پراختیا، ښه والي او همکاریو خبرې وشوې.
د افغانستان د هوايي ډګرونو د بیارغونې، پراختیا او معیاري کولو لپاره د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت هڅې د پام وړ دي. د هوايي ډګرونو امنیت، د مسافرو لپاره اسانتیاوې، د الوتنو زیاتوالی او د عصري تجهیزاتو نصبول ټول هغه ګامونه دي، چې د هېواد هوايي ټرانسپورټ راتلونکي ته هیلمندي ښيي. تمه ده چې دا پرمختګونه د افغانستان اقتصادي ودې ته لار هواره او د نړیوالو هوايي اړیکو پراخېدو ته به لا نوره زمینه هم برابره کړي.

# د ملي تدارکاتو کمېسيون لخــوا د ټــرانسپورټي پروژو منظورېدل

د ملي تدارکاتو کمېسيون په نوبتي غونډو کې چې مشري يې د رياستالوزراء اقتــصــادي مــرستيـال ملا عبــدالغنــي بـــرادر پــر غـــاړه وه، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت اړوند څو مهمې پروژې، چې د هېواد ټرانسپورټي اسانتياوو د ښه والي او اقتصادي پياوړتيا په موخه طراحي شوې وې، منظورې کړې.

## د کابل، هرات او بدخشان لپاره د ترمينلونو جوړول

د ملي تدارکاتو کمېسيون په نوبتي غونډه کې د کابل ښار ارغندی ټرانسپورټي ترمينل، د هرات ولايت گذرې ولسوالۍ د باروړونکو موټرو ترمينل او د بدخشان ولايت فيض‌اباد ښار د ايتارچي مسافروړونکي او باروړونکي ترمينل جوړول منظور شول. دا پروژې چې څه باندې (۱.۵) ميليارد افغانۍ ارزښت لري، اداري ودانۍ، انتظارځای، جومات، دوکانونه او نورې ډېرې اسانتياوې به لري.

## د کابل ختيځه برخه کې د مسافروړونکي ترمينل جوړول

همدارنگه د ياد کميسيون لخوا د کابل ښار ختيځه برخه کې د ۱۶۳ ميليونو افغانيو په ارزښت د يوه لوی مسافروړونکي ترمينل جوړولو پروژه هم منظور شوه. دا پروژه به د ښار د ترافيکي ستونزو د حل او د مسافرو لپاره د اسانتياوو د برابرولو په برخه کې مهمه ونډه ولري.

## د کندهار ولايت لپاره د ترمينلونو او د ورېښمو لارې ودانۍ جوړول

د ملي تدارکاتو کميسيون د ۱۴۰۳ل کال په اخري نوبتي غونډه کې د کندهار ولايت لپاره د دامان ولسوالۍ مسافروړونکی ترمينل پروژه او بله هغه يې د باغ پل مسافروړونکي ترمينل پروژه وه چې د ياد کميسيون له خوا منظوره شوه او د دې تر څنگ د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په انگر کې د ورېښمو لارې ودانۍ جوړول هم منظور شول، چې دې ټولو پروژو ته ۵۲۱ ميليونه افغانۍ بوديجه ځانگړې شوې ده.

د ملي تدارکاتو کمېسيون لخوا د دې پروژو منظورېدل د هېواد د ټرانسپورټي زيربناوو د پياوړتيا او خلکو ته د اسانتياوو برابرولو په برخه کې مهم گام گڼل کېږي.



# اقدامات مهم برای توسعه تسهیلات ترانسپورتی در ولایات مختلف افغانستان

وزارت ترانسپورت و هوانوردی به‌منظور فراهم شدن تسهیلات ترانسپورتی در ولایات مختلف کشور، گام‌های مؤثر برداشته است. این اقدامات سبب می‌شود که در سفرهای مسافران سهولت‌های بیشتر فراهم شود، به مشکلات ترافیکی رسیدگی شود و به رشد اقتصادی کشور همکاری کند.

در این گزارش به فعالیت‌های انجام شده در ترمینل‌های ترانسپورتی ولایت‌های میدان وردک، بغلان، هرات، هلمند، و کندز پرداخته می‌شود.

## افتتاح ترمینل ترانسپورتی در ولایت میدان وردک

به ارزش ٦٨ میلیون افغانی کار اعمار یک ترمینل ترانسپورتی در ولایت میدان وردک با حضور الحاج ملا حمیدالله آخندزاده، سرپرست وزارت ترانسپورت و هوانوردی، مولوی حمدالله نعمانی سرپرست وزارت مسکن و شهرسازی، شیخ الحدیث نورالحق انور رئیس عمومی اداره امور و شماری از مقامات امارت اسلامی طی مراسمی افتتاح شد.

این مراسم افتتاحیه که در تالار مقام ولایت میدان وردک برگزار شده بود، سرپرست وزارت ترانسپورت و هوانوردی ساخت این ترمینل را برای فراهم شدن سهولتّ‌های بیشتر به مسافران، صادرات و واردات اموال تجارتی و نظم ترانسپورتی یک گام مهم عنوان کرد.

این ترمینل که از سوی وزارت شهرسازی و مسکن طراحی و برنامه ریزی شده است، در مدت ۹ ماه تکمیل و به بهره‌برداری سپرده خواهد شد. این ترمینل که گنجایش ۳۰۰ واسطه را خواهد داشت، با بهره برداری آن به یک هزارت تن به‌طور مستقیم و غیر مستقیم زمینه کار فراهم می‌شود.

## افتتاح پروژه‌های ترانسپورتی در بغلان

سه پروژه مهم ترانسپورتی به ارزش ۴۸ میلیون افغانی در ولایت بغلان آغاز شده است. این پروژه‌ها شامل ساخت ترمینل‌های مسافربری و باربری، تعمیر اداری ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای این ولایت است. این پروژه‌ها که در مدت ۱۴ ماه تکمیل خواهد شد، با بهره‌برداری آن باشندگان بغلان از سهولتّ‌های بیشتر ترانسپورتی مستفید می شوند.

## توسعه خدمات ترانسپورتی در ولایت هرات

از طریق ۳۲ هده، ترمینل و بندر ترانسپورتی به‌طور ۲۴ ساعته برای مردم هرات خدمات بهتر ترانسپورتی عرضه می‌شود. در کنار این، ترمینل باربری که در بستر ۷۰۰ جریب در ولسوالی گذره موقعیت دارد و بیش از پنج هزار واسطه در آن فعالیت دارند، روزانه به ۴۰۰ واسطه باربری زمینه انتقال اموال تجارتی را فراهم کرده است.

قابل ذکر است که بخاطر بهبود فعالیت‌های این ترمینل، به ارزش ۱۹ میلیون افغانی یک پروژه بهسازی در آن تطبیق شده است که ۱۰۰ باب دوکان، سیستم آب رسانی و دیگر بخش‌های مهم را شامل می‌شود.

## اعمار تعمیر در ولایات هلمند و کندز

به ارزش ۱۲ میلیون افغانی کار اعمار تعمیر اداری ریاست‌های تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایات هلمند و کندز آغاز شده است. این تعمیرهای اداری که در سه طبقه ساخته می شوند، هر یک آن ۱۴ اتاق دارند و در مدت هشت ماه تکمیل خواهند شد.

از سوی هم، روزانه بیش از صد واسطه از ترمینل باربری بین‌الولایتی هلمند بخاطر انتقال بار به نقاط مختلف کشور به روندنوبت معرفی می‌شوند و ارائه خدمات ترانسپورتی به‌طور منظم به رانندگان و تاجران جریان دارد. این فعالیت‌ها نقش موثر در بهبود ترانسپورت و ارائه خدمات به شهروندان دارد.



## کنترل سرعت وسایط

وزارت ترانسپورت و هوانوردی حداعظمی سرعت بس های مسافربری را در مسیر شاهراهّ‌ها ۱۰۵ کیلومتر فی ساعت تعیین کرده است که بخاطر تطبیق این طرزالعمل در تمام وسایط مسافربری و باربری دستگاه جی‌پی‌اس نصب و از طریق آن بر سرعت وسایط در مسیر شاهراه‌ها نیز به‌طور جدی نظارت می شود. کنترول سرعت وسایط به‌هدف مصؤنیت مسافران و کاهش حادثات ترافیکی صورت می‌گیرد.




## فعالیت‌های بندر ترانزیتی بندر پُل ابریشم در ولایت نیمروز

با تلاش ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت نیمروز، از طریق بندر پُل ابریشم روزانه ۷۰ تکسی میان شهر زرنج و زاهدان ایران تردد دارند. این تکسی‌ها ظرفیت حمل ۸۰۰ مسافر را دارد که نقش مهم در تقویت روابط ترانسپورتی میان دو کشور ایفا می‌کند.



## تنظیم فعالیت ریکشاها در ولایت ننگرهار

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت ننگرهار به منظور تنظیم فعالیت ریکشاها در شهر جلال‌آباد با شرکت ترانسپورتی ریکشا چلانی بابا تفاهم‌نامه امضا کرده است.

بر اساس این تفاهم‌نامه، شرکت ریکشاچلانی بابا در مدت شش ماه مسیرهای فعالیت ریکشاها را مشخص، تنظیم و اسناد توزیع می‌کند.



این فعالیت‌های توسعه‌یی تسهیلات ترانسپورتی در ولایات مختلف افغانستان گام‌های مهمی برای بهبود کیفیت زندگی مردم و تقویت اقتصاد کشور شمرده می‌شود.

با تکمیل شدن این پروژه‌ها، تسهیلات زیست‌محیطی برای مسافران و وسایط باربری و مسافربری بهبود می یابد، مشکلات ترافیکی حل می‌شود و فرصت کاری برای تعداد زیادی از مردم فراهم می‌شود.

تطبیق این پروژه‌ها برای رشد اقتصادی کشور و بهبود کیفیت زندگی مردم نقش مؤثر دارد.



# په هلمند او سمنګان ولایتونو کې د ټرانسپورټي تاسیساتو جوړولو په موخه د ځمکو لېږد

په هلمند او سمنګان ولایتونو کې د ټرانسپورټي تاسیساتو جوړولو په موخه په وروستیو ورځو کې د ځمکو د لېږد په برخه کې مهم ګامونه ترسره شول. دا هڅې د ولایتونو د ټرانسپورټي اسانتیاوو د ښه والي او د باروړونکو موټرو لپاره د مناسب چاپېریال برابرولو په موخه ترسره شوي دي.

## هلمند ولایت کې د ۱۷۱ جریبه ځمکې لېږد

د هلمند ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست ته، په باباجي ولسوالۍ کې د باروړونکو موټرو لپاره د تیر پارک جوړولو په موخه ۱۷۱ جریبه ځمکه ولېږدول شوه. دا ځمکه د هلمند ولایت کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست مسئولینو او ګډ هیئت لخوا د ټرانسپورټي اسانتیاوو د برابرولو په موخه وړاندې شوه، چې د موټرو د پارک کولو او ترافیکي نظم په برخه کې به مهم رول ولوبوي.

## سمنګان ولایت کې ۲۵۰ جریبه ځمکه د ټرانسپورټي تاسیساتو لپاره وړاندې شوه

په سمنګان ولایت کې هم د ټرانسپورټي تاسیساتو د جوړولو په موخه مهم اقدامات ترسره شوي دي. د سمنګان ولایت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست لخوا د ایبک ښار او خُلم ولسوالۍ کې ۲۵۰ جریبه ځمکه د تیر پارک او باربري ترمینل د جوړولو په موخه د سمنګان ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست ته وړاندې شوه، چې د سمنګان ولایت ټرانسپورټي چارو په ښه والي او اسانتیا کې به مهمه ونډه ولري.

په یادو ولایتونو کې د ځمکو لېږد د ولایتونو د ټرانسپورټي اسانتیاوو د ښه والي په برخه کې مهم ګام ګڼل کېږي. د تیر پارکونو او باربري ترمینلونو جوړول به باروړونکي موټر منظم او د ترافیکي نظم په برخه کې به لا اسانتیا رامنځته کړي.

## د یو کال په موده کې د تخنیکي چک پروسه

د تخنیکي چک پروسه، چې د ټرانسپورټي وسایطو د خوندیتوب، د مسافرو د خوندیتوب او د سوداګریزو توکو د معیاري لېږد لپاره مهمه ده، د ۱۴۰۳ لمریز کال په اوږدو کې د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت له لورې د پلازمېنې کابل په ګډون د هېواد په ټولو ترمینلونو کې په پراخه کچه ترسره شوه.

د دې تر څنګ د نیمروز ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست له لوري، د زرنج بندر له لارې د سوداګریزو توکو د خوندي لېږد په موخه، د هغو یخچالي باروړونکو موټرو تخنیکي چک هم ترسره شوی دی، چې له ایران څخه افغانستان ته توکي واردوي، یاد موټر د نړیوالو ټرانسپورټي اصولو پر بنسټ ارزول شوي او د تخنیکي چک له پروسې وروسته تصدیق پاڼې ورکړل شوې، تر څو د توکو خوندي لېږد ډاډمن شي.

د مسافرو د خوندیتوب او د عامه ټرانسپورټ معیاري کولو په موخه، د ۱۴۰۳ لمریز کال په اوږدو کې د ټول هېواد په کچه د ۲۵,۷۲۲ مسافر وړونکو او باروړونکو موټرو تخنیکي ارزونه ترسره شوې، چې موخه یې د ټرانسپورټي خدماتو معیاري کول، د مسافرو او باروړونکو وسایطو خوندیتوب، ټرافیکي پېښو مخنیوی او د نړیوالو ټرانسپورټي معیارونو پلي کول دي.

ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت ژمن دی، چې دا بهیر به لا پراخ کړي، څو د هېواد ټرانسپورټي سیستم لا خوندي، معیاري او پرمختللی شي.

## د ۱۴۰۳ل کال ښوونیز پروګرامونه

ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د ظرفیت لوړونې او مسلکي ودې په برخه کې د ۱۴۰۳ل کال په اوږدو کې مهم او ارزښتناک ګامونه اخیستي، چې په پایله کې یې ټولټال ۷۵ بېلابېل ښوونیز پروګرامونه ترسره شوي دي.

یاد ښوونیز پروګرامونه، چې پکې له ۱۲۰۰ زیات مرکزي او ولایتي کارکوونکي برخه‌وال وو، د دې لپاره جوړ شوي وو چې د کارکوونکو مسلکي مهارتونه لوړ، چارې یې معیاري او د خدمتونو کیفیت یې لا غوره شي.

دغه ښوونیز پروګرامونه د کارکوونکو لپاره د نوو سیستمونو سره د بلدتیا او د اړوندو دندو په برخه کې د پوهې د پراختیا لپاره خورا اغېزمن تمام شوي دي.

ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت ژمن دی، چې د ظرفیت لوړونې دا لړۍ به دوام ورکړي او هڅه کوي چې د یاد وزارت کارکوونکي د ملي او نړیوالو معیارونو سره سم وروزل شي.

## د هوایي چلند انستیټیوټ او د مسلکي کدرونو روزنه

د افغانستان د ملکي هوایي چلند انستیټیوټ د مسلکي کدرونو د روزنې او هوایي سکټور د پراختیا په موخه خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي. په همدې لړ کې په ۱۴۰۳ل کال د سلواغې/دلوې میاشتې په ۲۷مه نېټه د ۷۷ محصلانو د فراغت مراسم ترسره شول، چې پکې د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت مالي او اداري معین حافظ صدیق‌الله عابد، د ازموینو ملي ادارې رئیس شیخ عبدالباقي حقاني، د لوړو زده کړو وزارت معین مولوي محمد حامد، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري مرستیال مفتی فضل‌الرحمن او یو شمېر نورو مسئولینو ګډون درلود.

### د کانکور ازموینې د ترسره کېدو بهیر

د ملکي هوایي چلند انستیټیوټ ته د نوې دورې د محصلینو جذبولو لپاره د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت له‌خوا د هېواد په څلورو ولایتونو بلخ، کندهار، خوست او هرات، چې نړیوال هوایي ډګرونه هم پکې شته د کانکور ازموینه ترسره شوه. په دې ازموینه کې ۸۶۳ کسانو ګډون کړی و، چې بریالي نوماندان یې یاد انستیټیوټ دوه کلنو زده کړو ته جذب کړای شول.

همداراز په یاد انستیټیوټ کې د شپې برخې لپاره هم د کانکور ازموینه واخیستل شوه، چې ۱۶۷ کسانو پکې ګډون کړی و. یادو محصلینو ته به د هوایي چلند مدیریت او د هوایي ډګرونو د ځمکنیو خدمتونو (ګرونډ هنډلینګ) په برخو کې زده کړې ورکړل شي.

## د زده کړو برخې او د انستیټیوټ اهمیت

په ملکي هوایي چلند انستیټیوټ کې دا مهال په مختلفو مهمو څانګو کې زده کړې ترسره کېږي، چې پکې د هوایي چلند تخنیک، هوایي ترافیکو کنټرول، ځمکني ټرانسپورټ، هواپېژندنې او اوروژنې برخې شاملې دي. یاد انستیټیوټ د هوایي سکټور د پرمختګ لپاره مهم رول لري.
د ملکي هوایي چلند انستیټیوټ د هېواد د هوایي سکټور د پراختیا لپاره یو مهم بنسټ دی او د مسلکي کدرونو د روزنې له لارې د هېواد د اقتصادي ودې او نړیوالو معیارونو ته د رسېدو لپاره یوه مهمه هڅه ده، چې د هېواد د هوایي چلند راتلونکي ته روښنایي او هیله وربښي.

## د درېیو میاشتو په موده کې د ځینو ترسره شویو غونډو، لېدنو او کړنو لنډ خبرونه

**د مرغومي/جدي میاشت:**

- په کابل کې د ۴۰ موټرو ټرانسپورټي فعالیت وځنډول شو او ۴۸ موټره اصلاح شول.
- برای طیارات در میدان هوایی فیض‌آباد بدخشان به‌طور منظم خدمات ارائه می‌شود.
- د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري په مشرۍ په ننګرهار ولایت کې د ربکشاوو د تنظیمولو لپاره د یوې هوکړې په اړه غونډه وشوه.
- د زابل واټ ټرانسپورټ امریت د قلات – کندهار پر لاره د موټرو تمځای کې ۱۲ ساعته خدمتونه وړاندې کوي او اسانتیاوې یې برابرې کړې دي.
- د سنګ‌نوشتې تمځای کې موټر په رسمي بڼه رنګ شوي او هره ورځ ترې سوېل ختیځو ولایتونو ته مسافر لېږدول کېږي.
- در باره جلوگیری از حوادث ترافیکی در بلخ، نشست برگزار شد.
- د کاپیسا ولایت واټ ټرانسپورټ اداري ودانۍ جوړولو چارې په چټکۍ سره رواني دي
- د نیمروز واټ ټرانسپورټ رئیس د کرایې لایحې پلي کولو لپاره د ټرانسپورټي شرکتونو استازو ته سپارښتنې وکړې.
- د هرات ولایت ګذرې ولسوالۍ کې د نړیوال ترمینل د جوړېدو د چټکتیا او د کارونو د ښه ترسره کېدو په اړه ناسته وشوه.
- د ارزګان ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم امریت لپاره نوې اداري ودانۍ جوړه شوه.
- د نیمروز واټ ټرانسپورټ ریاست له‌خوا د مسافروړونکي ترمینل کې ۲۴ ساعته غوره خدمتونه وړاندې کېږي او له خدمتونو یې مسافر ترې خوشحاله دي.
- د باغ پُل مسافروړونکي ترمینل د چاپېربدونکي دېوال چارې نیمایي ته نږدې شوې دي.
- د فراه مسافروړونکي ترمینل کې په ۲۴ ساعته ډول خدمتونه او د سفر اسانتیاوې برابرې دي.
- د نیمروز واټ ټرانسپورټ ریاست له‌خوا د کرایې لایحې پلي کولو څارنه وشوه او موټر چلوونکو ته یې لازمې لارښوونې وکړې.

• شرکت‌های ترانسپورتی در بلخ طرزالعمل ترانسپورتی را تطبیق می‌کنند.
• د پکتیکا واټ ټرانسپورټ امریت د اورگون-کابل لارې موټر په رسمي رنگ کړای شوي او غیر اصولي موټرو ته اجازه نه ورکوي.
• د ټرانسپورټ مسئولینو د شرکتونو استازو سره د موټرو معیاري کولو او خوندي سفر په اړه ناسته وکړه.
• د فراه ولایت ابونصر فراهي بندر کې د باروړونکي ترمینل د جوړیدو چارې په ښه ډول رواني دي.
• په هرات ولایت کې د شمالي ولایتونو د موټرو ترمینل په ۲۴ ساعته ډول فعالیت کوي.
• از کارهای بازسازی ترمینل میدان هوایی بین‌المللی مولانا جلال‌الدین محمد بلخی نظارت صورت گرفت.
• میدان هوایی کندز برای انجام پروازها فعال است.
• د مرغومې په میاشت کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په مشرۍ له تورخم او سپین بولدک څخه ۲۳۹کډوالې کورنۍ چې د غړو شمېر يې ۱٦٦۴ ته رسېده، په وړیا او خوندي ډول تر خپلو سیمو ولیږدول شول.

## د سلواغې/دلوې میاشت

• د نیمروز ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست مسئولینو د یاد ولایت په ترمینلونو کې د موټرو تخنیکي کنټرول ترسره کړ.
• در باره تثبیت کرایه زون بلخ نشست برگزار شد.
• در دیدار با نمایندگان تاجران و رانندگان زون غرب، در باره تطبیق لایحه کرایه تاکید شد.
• د کندهار ولایت باغ پُل مسافروړونکي ترمینل کې موټر چلوونکو ته عامه پوهاوی ورکړل شو.
• در باره مدیریت پروژه‌های انجنیری سمینار آموزشی برگزار شد.
• د هوايي چلند عملیاتي معین الحاج مولوي فتح‌الله منصور په مشرۍ د یاد وزارت تخنیکي مشاورینو او رئیسانو سره د هوايي چلند د لا ښه‌والي او معیاري کولو په پار ناسته ترسره شوه
• د پکتیا ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست مسئولینو له‌خوا، یاد ولایت کې له ځینو مسافروړونکو او باروړونکو موټرو څخه لیزري څراغونه او زیاتې ځوکۍ ایسته شوې دي.
• په بېلابېلو ولایتونو کې د ترافیکي پېښو د مخنیوي په موخه له ټرانسپورټي شرکتونو سره د ریاست‌الوزراء عالي مقام د حکم ښه پلي کولو په پار ناستې شوې دي.
• از چگونگی فعالیت شرکت‌های ترانسپورتی در ترمینل پایتخت نظارت صورت گرفت.
• د فراه هوايي ډگر فعال او الوتنو ته چمتو دی.
• وسایط ترانسپورتی در کندهار در حالی معیاری شدن مطابق به اصول ترانسپورتی اند.
• په هرات ولایت کې د ۳۰ هډو، دوو ترمینلونو او ۱۴ ټرانسپورټي بندرونو له لارې په ۲۴ ساعته ډول غوره ټرانسپورټي خدمتونه وړاندې کېږي.
• فعالیت‌های ترانسپورتی در ترمینل باربری بین‌الولایتی حیرتان به‌طور ۲۴ ساعته است.
• لښکرگاه هوايي ډگر څخه په میاشتني ډول تر شلو ډېرې الوتنې ترسره کېږي.
• کار اعمار تعمیر اداری ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای کندز آغاز شد.
• از چگونگی فعالیت شرکت‌های ترانسپورتی در تخار نظارت صورت گرفت.
• تلاش‌ها جهت معیاری شدن وسایط مسافربری در کندز جریان دارد.
• در باره بهبود فعالیت‌های میدان هوایی بین‌المللی مولانا جلال‌الدین محمد بلخی نشست برگزار شد.
• روند جمع‌آوری چراغ‌های لیزری از وسایط مسافربری در ولایات به‌طور جدی جریان دارد.
• د هرات ولایت د باروړونکو ټرانزیټي موټرو ترمینل کې له ٦ زرو څخه زیات باروړونکي موټر فعالیت لري، چې هره

ورځ شاوخوا ۵۰۰ موټر د بار لېږدولو لپاره اسلام کلا او تورغونډۍ بندرونو ته استول کېږي.
• انتقال رایگان و مصئون بیش از ۲۰۰ مهاجر به مناطق شان
• د سلواغې په میاشت کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په مشرۍ له تورخم او سپین بولدک څخه (۱۸۶) کډوالې کورنۍ چې د غړو شمېر يې (۱۰۰۹) ته رسېده، په وړيا او خوندي ډول تر خپلو سيمو ولېږدول شول.

## د کب/حوت میاشت

• ترینکوټ هوايي ډګر کې د جومات جوړېدو چارې په چټکۍ روانې دي
• روند نصب و فعال‌سازی دستگاه ردیاب در وسایط ترانسپورتی در تمام ولایت ادامه دارد.
• تلاش‌ها بخاطر بهبود و نظم ترانسپورتی در شهر کابل جریان دارد.
• انتقال اضافه بار توسط وسایط مسافربری ممنوع شد.
• د اروزګان ولايت واټ ټرانسپورټ تنظيم آمريت اداري ودانۍ ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.
• په سمنګان ولايت کې د کرايې لايحې لا ښه پلي کولو څخه دوامداره څارنه ترسره شوه.
• د واټ ټرانسپورټ معين الحاج ملا عبدالسلام حيدري په مشرۍ د ټرانسپورټي شرکتونو استازو او موټرچلوونکو سره د کابل ولايت په دهسبز د باروړونکو موټرو ترمينل کې د روانې نوبت د ښه پلي کېدو په تړاو ناسته وشوه
• در میدان هوایی بین‌المللی کابل در روزهای برف‌باری همچنان ارائه خدمات به پروازها و مسافرین جریان دارد.
• د نيمروز ولايت واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست مسئولينو د مسافروړونکو شرکتونو استازو سره ناسته کې د شرکتونو اصولي کېدو، د موټرچلوونکو روغتيا او د خلکو خوندي سفر لپاره د موټرو سرعت کنټرول په اړه بحث وکړ.
• ترينکوټ هوايي ډګر په تخنيکي وسايلو مجهز او الوتنې ترې کېږي.
• ترمینل باربری ده سبز کابل؛ رضایت مندی تاجران و رانندگان از فعالیت های ۲۴ساعته در این ترمینل
• هرات کې د مسافروړونکي ترمينل د جوړېدو له چارو څارنه ترسره شوه.
• د هلمند واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست لښکرګاه کې د ولسواليو موټرو تم ځای برابر او د مسافروړونکي ترمينل جوړولو چارې يې بشپړې کړې.
• کندوز ولايت کې د موټرو تخنيکي ارزونې سره ډېرې موټر معياري شوي دي.
• پیرامون بهبود فعالیت شرکت‌های ترانسپورتی در بلخ نشست برگزار شد.
• در ترمینل باربری آقینه ولایت فاریاب به‌طور ۲۴ ساعته خدمات ترانسپورتی عرضه می‌شود.
• اروزګان ولايت کې باروړونکو موټرو تم ځای په ۲۴ ساعته ډول فعال او موټر چلوونکي د موټرو نوبت تنظيم او اسانتياوو څخه خوښ دي.
• د هرات ولايت واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست مسئولينو د ياد ولايت باروړونکو موټرچلوونکو له استازو سره د روانې نوبت سيستم ښه پلي کولو، موټرو اصولي کېدو او ټرانسپورټي اصول پام کې نيولو په اړه ناسته وکړه.
• فعالیت‌های هده مسافربری میمنه-هرات به‌طور منظم جریان دارد.
• د سپين بولدک باروړونکو موټرو تم ځای څخه په ورځني ډول د روانې نوبت په پام کې نيولو سره، شاوخوا ۳۰۰ موټر معرفي کېږي.
• د کندوز ولايت واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست مسئولينو په ټرانسپورټي چارو کې د لا روڼتيا په موخه له يو شمېر کنټرولي ټرانسپورټي بندرونو څخه څارنه وکړه.
• د کب په میاشت کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په مشرۍ له تورخم او سپين بولدک څخه (۲۶۸) کډوالې کورنۍ چې د غړو شمېر يې (۱۳۰۶) ته رسېده، په وړيا او خوندي ډول تر خپلو سيمو ولېږدول شول.



# د افغانستان ځمکني ټرانسپورټ او ټرانزیټ په برخه کې د ۱۴۰۳ لمریز کال لاسته راوړنې

په تېر ۱۴۰۳ لمریز کال کې، افغانستان د ځمکني ټرانسپورټ او ټرانزیټ په برخه کې د پام وړ پرمختګونه او لاسته راوړنې درلودې، چې دا هېواد یې د سیمې په کچه د سوداګرۍ او اتصال یو مهم مرکز په توګه وړاندې کړ. دا پرمختګونه د افغانستان د اقتصادي ودې، هېوادوالو ته د اسانتیاوو او د نړیوالو سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره زمینه برابروي.

## د ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې مهمې پروژې

په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ملي بودجې له لارې ۳۷ پروژې پلي کړې، چې ۲۳ یې د اداري ودانیو جوړونې او بیا رغونې او ۲۴ یې د ټرانسپورټي زېربناوو، ترمینلونو او تېرپارکونو جوړولو ته ځانګړې شوې. له مهمو پروژو څخه په تورخم او شېرخان بندر کې د باروړونکو ترمینلونو د امنیتي دېوالونو او جوماتونو جوړول، په ابو نصر فراهي بندر کې د ترمینل پراختیا، په هلمند، سمنګان او هرات کې د مسافر وړونکو ترمینلونو جوړول او د ۲۴ ولایتونو په ټرانسپورټي هډو کې د لمریزي برېښنا نصب شامل دي. دا پروژې نه یوازې د ټرانسپورټي خدمتونو د معیاري کولو، بلکې د عوایدو د تنظیم، د مسافرینو او باروړونکو وسایطو د اسانتیا او د ټرانسپورټي بنسټونو د پراختیا لپاره مهم ګامونه دي.

## د تخنیکي او امنیتي اقداماتو پرمختګ

په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د ټرانسپورټي خوندیتوب د پیاوړتیا او د ترافیکي پېښو د مخنیوي په موخه مهم اقدامات ترسره شول، چې له ډلې یې څه کم ۲۶زره موټرو تخنیکي ارزونه وشوه، ترڅو د سفر امنیتي معیارونه پیاوړي شي، د مسافر وړونکو وسایطو لپاره ۱۰۵ کیلومتره سرعت محدودیت وټاکل شو، ترڅو له ټاکل شوي حد څخه تېری ونه کړي او تر ۸زرو په شمېرموټرو کې GPS آلې نصب شوې، چې د وسایطو سرعت او مسیرونه څاري، دا چاره د ترافیکي پېښو د مخنیوي لپاره یو مهم اقدام ګڼل کېږي، سربېره پر دې د ټرانسپورټي عامه پوهاوي پروګرام له لارې ۶۰۰۰ خبرتیاوې چاپ او په ترمینلونو کې نصب شوې، ترڅو عام خلک د ټرانسپورټي قوانینو او خوندیتوب اصولو سره لا ښه بلد شي.

## د ټرانسپورټي خدماتو برېښنايي کول او عوايدو مديريت



په ۱۴۰۳ لمريز کال کې د ټرانسپورټي خدماتو د برېښنايي کولو بهير چټک شو، چې له دې جملې ۴۴۸ ټرانسپورټي شرکتونو ته د فعاليت جوازونه ورکړل شول، ۹۰۰ ټرانسپورټي نمايندهګيو ته د فعاليت اجازه ليکونه صادر شول، او ٦٦١٩١ وسايطو ته د ټرانسپورټي اسنادو وېش ترسره شو، ترڅو قانوني فعاليتونه تنظيم شي. همداراز، د عوايدو برېښنايي په سيستم کې څه کم ۱۳ زره وسايط ثبت شوې، چې دا چاره د عوايدو د تنظيم او د روڼتيا لپاره يو مهم اقدام و. په لويو ترمينلونو کې د روڼ نوبت برېښنايي سيستم فعال شوی، چې نږدې ۴۰زره وسايط پکې ثبت دي او د ټرانسپورټي چارو د روڼتيا لپاره د کرايو لايحې کنټرول ته دوام ورکړل شوی، ترڅو د خدماتو کيفيت لوړ او مسافرو لپاره اسانتياوې زياتې شي.

## د ټرانزيټي دهلېزونو پراخېدل او نړيوالې اړيکې

په ۱۴۰۳ لمريز کال کې افغانستان د ټرانزيټي دهلېزونو پراخولو او نړيوالو اړيکو پياوړتيا ته ځانګړې پاملرنه وکړه، چې د منځنۍ آسيا، جنوبي آسيا، ايران، چين او نورو سيمو سره يې ټرانسپورټي همکاريو ته دوام ورکړ. د افغانستان او ايران ترمنځ د ځمکني ټکسي خدماتو ته وده ورکړل شوه، ترڅو سوداګر او عام وګړي له سفري اسانتياوو ګټه واخلي. همداراز د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده په مشرۍ افغان پلاوي د قزاقستان د شمال ـ سوېل ټرانزيټي دهلېز غونډه کې ګډون وکړ، چې له منځنۍ اسيا هېوادونو سره د ټرانزيټي اسانتياوو پر پراخولو بحثونه وشول. سربېره پر دې په کابل کې د چين او قطر له سفيرانو سره ناستې وشوې، چې د دوه اړخيزو ټرانسپورټي همکاريو د لا پراخېدو لپاره ګټور اقدامات ترسره شي.

## د ټرانسپورټي خدمتونو ښه‌والي لپاره نور اقدامات

د بين‌الولايتي روڼ نوبت سيستم د باروړونکو وسايطو لپاره پلي شو، چې د سوداګريزو وسايطو تنظيم اسانه کړي. په همدې ډول، د تورخم، سپين بولدک او کابل له لارې زرګونه کډوال په وړيا ډول خپلو ولايتونو ته انتقال شول. د ټکسي موټرو لپاره هم نوی معيار ټاکل شوی دی، چې له مخې يې د ټرانسپورټي اصولو سره برابر خدمات وړاندې کېږي.

## د ځمکني ټرانسپورټ د کاري ځواک روزنه

په تېر يو کال کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند اړوند انستيټيوټ کې د واټ ټرانسپورټ علمي ځانګه رامنځته شوه، چې زده‌کوونکي يې د دوه کلنو زده‌کړو وروسته په خپله اړونده برخه کې په دندو ګمارل کېږي او دا برخه به په مکمله توګه په نړيوال معيار سره سمه په پښو دروي.

په ۱۴۰۳ لمريز کال کې، افغانستان د ځمکني ټرانسپورټ او ټرانزيټ په برخه کې د پام وړ پرمختګونه وکړل. د ترمينلونو جوړول، د تخنيکي او امنيتي سيستمونو پياوړتيا، د سيمه‌ييزو اړيکو پراختيا او د خدماتو معياري کول يې د افغانستان د ټرانسپورټي سيستم د پرمختګ لپاره مهم اقدامات وو. دا پرمختګونه څرګندوي چې افغانستان به په راتلونکې کې د سيمې په کچه د سوداګرۍ او اتصال د يو مهم مرکز په توګه وپېژندل شي.




# فراز و فرود هوانوردی افغانستان در سال ۱۴۰۳؛ گامی بسوی پیشرفت و خودکفایی

افغانستان بسوی یک تحول عظیمی از پیشرفت و خودکفایی در حرکت است، از جمله بخش هوانوردی. این تحول نسبت به هر زمان دیگری در سال ۱۴۰۳ خورشیدی بیشتر جامه عمل پوشیده و به دست‌آوردهای نایل شده است. وزارت ترانسپورت و هوانوردی با تلاش‌های مداوم فضای این کشور را به چهارراهی پرتردد برای پروازهای داخلی و بین‌المللی مبدل کرده است. صنعت حمل و نقل هوایی با ویژگی‌های مسیر مصؤن، سریع و سالم با هزینه و زمان کم نه تنها چرخ اقتصاد را به گردش درآورده، بلکه در زندگی روزمره مردم نیز سهولت ایجاد کرده است.
در این مقاله، به فعالیت‌ها و دست‌آوردهای بخش هوانوردی در سال ۱۴۰۳ می پردازیم.

## میادین هوایی فعال

در حال حاضر، ۲۷ میدان هوایی در سراسر افغانستان فعال است که زیر چتر وزارت ترانسپورت و هوانوردی از طریق آن به مردم خدمات حمل و نقل هوایی ارائه می‌شود. از این میان ۵ میدان هوایی برای انجام پروازهای بین‌المللی خدمات ارائه می‌کنند که نقش کلیدی در اتصال افغانستان با جهان دارد و از ۲۲ میدان هوایی دیگر که در ۱۸ ولایت موقعیت دارند، به سطح محلی پرواز انجام می‌شود.




# دست‌آوردهای میدان هوایی بین‌المللی کابل

میدان هوایی کابل که یکی از میادین مهم و استراتژیک افغانستان شمرده می‌شود در جریان سال ۱۴۰۳ به تعداد سه هزار و ۴۹۴ پرواز از آن به داخل کشور و چهار هزار و ۲۶۹ پراواز بین‌المللی از کابل به مقصد شهرهای تهران، مشهد، اسلام آباد، جده، ریاض، مدینه، کویت، دوحه، شارجه، دوبی، ابوظبی، ارومچی، تاشکند، مسکو، انقره، استانبول و دهلی انجام شده است.

در همین حال در جریان سال ۱۴۰۳ شرکت‌های هوایی ترکش ایرلاینز کشور ترکیه، ایران ایر و ایران ایرتور کشور ایران به‌منظور فراهم شدن تسهیلات بیشتر به مسافران پروازهای دو طرفه شان را به کابل آغاز کردند که پیش از این شرکت‌های هوایی ماهان، کیش‌ایر، فلای دوبی و ایرالعربیه نیز به‌طور منظم پروازهای شان را به کابل آغاز کرده بودند.

وزارت ترانسپورت و هوانوردی در این سال چندین پروژه عمرانی را در میدان هوایی بین‌االمللی کابل تطبیق کرده است از آن جمله آغاز کار اعمار یک ترمینل معیاری در سه‌طبقه به هزینه ۳۰۰ میلیون افغانی، کار پوشش بام ترمینل بین‌المللی به هزینه یک میلیون و ۱۳ هزار افغانی و دیوار احاطوی به هزینه ۱۴ میلیون و ۸۹۳ هزار افغانی در جریان است. همچنان پروژه‌های نصب زینه برقی، ساخت دو محراب مسجد و اعمار یک ذخیره‌گاه معیاری به ارزش بیش از ۴۵ میلیون افغانی تکمیل و بهره‌برداری شده‌اند.

## میدان هوایی بین‌المللی احمدشاه بابا در کندهار




این میدان هوایی که ولایت‌های جنوب را به کابل و برخی از شهرهای جهان وصل می‌کند، در سال ۱۴۰۳ میزبان یک هزار و ٦٥٥ پرواز داخلی و ۷۸۵ پرواز خارجی به مقصد شهرهای تهران، مشهد، دوبی و جده بوده است.

از سوی هم پروژه توسعه ساحه خطپرواز و کانال‌های آب به‌هزینه ۹۱ میلیون افغانی نیز در این میدان هوایی آغاز شده و به‌پیش می‌رود.

## میدان هوایی بین‌المللی مولانا جلال‌الدین محمد بلخی در بلخ



میدان هوایی مولانا جلال‌الدین محمد بلخی در جریان سال ۱۴۰۳ خورشیدی با ۸۴۰ پرواز داخلی و ۴۳۰ پرواز خارجی به شهرهای اسلام‌آباد، تهران و جده برای مسافران و شرکت‌های هوایی خدمات ۲۴ ساعته ارائه کرده است. وزارت ترانسپورت و هوانوردی بخاطر فراهم شدن سهولت‌های بیشتر در این میدان هوایی، به ارزش ۷۳ میلیون افغانی کار اعمار یک انتظارگاه معیاری و توقف گاه وسایط را در سال ۱۴۰۳ نیز آغاز کرد.

## میدان هوایی بین‌المللی خواجه عبدالله انصاری در هرات




در جریان سال ۱۴۰۳ خورشیدی از این میدان هوایی بین‌المللی به تعداد یک هزار و ۱۶۴ پرواز داخلی و ۱۳۳ پرواز خارجی صورت گرفته است که برای مسافران زون غرب کشور در بخش حمل‌و نقل هوایی یک سهولت ارزشمند پنداشته می شود.

نوسازی برج مراقبت پروازهای این میدان هوایی و تطبیق پروژه دیوار احاطوی به ارزش ۱۲ میلیون و ۱۴۰ هزار افغانی از دست‌آوردهای سال ۱۴۰۳ محسوب می‌شود.

## میدان هوایی بین‌المللی خوست



میدان هوایی خوست که در سال ۱۴۰۲ بازسازی و از آن پروازهای بین المللی آغاز شد، در سال ۱۴۰۳ میزبان ۱۷۰ پرواز داخلی و ۱۲۵ پرواز خارجی به شهرهای جده و دُبَی بود. همچنان در این میدان هوایی بین المللی پروژه‌های اعمار دیوار احاطوی به هزینه ۶ میلیون و ۹۰۳ هزار افغانی و پروژه اعمار مکان‌های میلاندار ساحه خطپروزا به هزینه ۲۶ میلیون و ۲۷ هزار افغانی جریان دارد.

## انتقال حجاج افغان

یکی از دست‌آوردهای دیگری از وزارت ترانسپورت و هوانوردی در سال ۱۴۰۳ در بخش هوانوردی ارائه خدمات منظم و معیاری برای حجاج افغان در انتقال به عربستان سعود است که از طریق پنج میدان هوایی بین‌المللی بیش از ۳۰ هزار تن برای زیارت بیت الله شریف و ادای حج به عربستان سعودی انتقال داده شدند.



## میادین هوایی محلی

در کنار میادین هوایی بین المللی، ۲۲ میدان هوایی محلی نیز از سوی وزارت ترانسپورت و هوانوردی فعال و مورد استفاده است که در ولایت‌های بادغیس، بامیان، بدخشان، تخار، جوزجان، دایکندی، زابل، غزنی، غور، فاریاب، فراه، کندز، ننگرهار، نیمروز، هلمند و ارزگان موقعیت دارند.

همچنان در میدان هوایی بامیان پروژه ترمیم اساسی خطپرواز به هزینه ٦ میلیون و ۳۵۲ هزار افغانی و در میدان هوایی لشکرگاه دیوار احاطوی و ترمیم خط پرواز به هزینه ۷ میلیون و ۹۰۹ هزار افغانی در حال تطبیق شدن است.







## تقویت و گسترش روابط هوانوردی

الحاج ملا حمیدالله آخندزاده، سرپرست وزارت ترانسپورت و هوانوردی به‌هدف توسعه روابط ترانسپورت هوایی و بهبود فعالیت‌های این بخش با نمایندگان کشورهای ترکیه،قزاقستان، چین و شارژدافیر قطر در کابل دیدار و گفتگو کرده است.

در کنار این الحاج ملا عبدالسلام حیدری معین ترانسپورت جاده‌ای نیز در سفری به قطر با سرپرست اداره هوانوردی این کشور تفاهمنامه آغاز پروازهای مستقیم میان افغانستان و قطر را امضا کرد که بر اساس آن افغانستان به راه های ترانزیت هوایی بیشتر وصل می‌شود و برای مسافران نیز در زمینه رفت و آمد سهولت فراهم می‌گردد.

از سوی هم الحاج مولوی فتح‌الله منصور، معین عملیاتی هوانوری بخاطر بهبود فعالیت‌های بخش هوانوردی با نمایندگان شرکت‌های هوایی و برخی دیگری از مسئولان نشست‌های مداومی برگزار کرد که نتیجه مثمری در پی داشته است.

## برنامه‌های آینده

در سال ۱۴۰۳ از بودجه ملی امارت اسلامی افغانستان به ارزش ۱.٦ میلیارد دالر ۳۴ پروژه در بخش‌های ترانسپورت جاده‌ای و هوانوردی تطبیق شده است که ۱۴ پروژه آن در بخش هوانوردی مختص شده بود.

در سال ۱۴۰۴ خورشیدی وزارت ترانسپورت و هوانوردی به ارزش ۳.۸ میلیارد دالر ۵۳ پروژه عمرانی دیگر را تطبق خواهد کرد که از این میان ۱۵ پروژه مربوط به بخش هوانوردی می‌باشد که در حال اجرا شدن است.

همچنان در این سال مالی در کنار این پروژه‌ها، پروژه اعمار ترمینل میدان هوایی بین‌المللی احمدشاه بابا نیز شامل است.

سال ۱۴۰۳ برای هوانوردی افغانستان سالی پربار و با ثمر بود. از افزایش پروازها و توسعه زیرساخت‌ها گرفته تا اتصال به راه‌های ترانزیتی سایر شهرهای جهان، که نشان‌دهنده عزم راسخ این وزارت برای خودکفایی و معیاری سازی این بخش است. این تلاش‌ها نه تنها سهولت‌های بیشتر رفت و آمد را برای مردم به ارمغان آورده، بلکه جایگاه افغانستان را در منطقه تقویت کرده است. با این حال آینده هوانوردی افغانستان با این تلاش‌ها، روشن و امیدوارکننده به نظر می‌رسد.






# په نړۍ کې د هوايي چلند اړوند وروستۍ مرګوني پېښې

په نننۍ نړۍ کې الوتنه نه يوازې د چټک سفر ارزښتمنه او مهمه وسيله ده، بلکې د پرمختللي ژوند يو بې مثاله نښه هم ګڼل کېږي. خو کله چې دا پرمختللې او ظاهراً خوندي وسيله له تخنيکي ستونزو، انساني تېروتنو، يا حتی بهرنيو لاسوهنو سره مخ شي، پايلې يې دردوونکي او د سلګونو انسانانو د مرګ لامل کېږي. په دې مقاله کې په تېرو څو مياشتو کې د هوايي چلند اړوند د مرګونو پېښو يو لنډ معلومات درسره شريکوو، چې د نړۍ په لويو او پرمختللو هېوادونو کې رامنځته شوې دي.



## د اذربايجان الوتکې پېښه؛ ۳۸ تنه ووژل شول

په ۲۰۲۴ کال د دسمبر ۲۵مه، د اذربايجان يوه مسافر وړونکې الوتکه د قزاقستان د اکتاو ښار ته نږدې نسکوره شوه. په الوتکه کې ٦٧ تنه سپاره وو، چې له ډلې يې ۳۸ تنه ووژل شول او ۲۹ تنه ژوندي پاتې شول.

د اذربايجان د ټرانسپورټ وزير رشيد نبيوف وويل، ژوندي پاتې کسان وايي چې په هوا کې يې د درېيو چاودنو غږونه اورېدلي دي.

د اذربايجان هوايي شرکت هم ويلي چې لومړنۍ څېړنې د «بهرنۍ فزيکي مداخلې»امکان ته اشاره کوي.

د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين له اذربايجاني ولسمشر څخه بښنه غوښتې، خو روسيې په دې پېښه کې خپل مسئوليت نه دی منلی. راپورونه زياتوي چې الوتکه د چيچنيا پر فضا د روسيې هوايي دفاعي سيستم لخوا ويشتل شوې ده، چې بيا يې مسير د کاسپين سمندرګي له لارې قزاقستان ته بدل کړی او هلته غورځېدلې ده.

## په امريکا کې د چورلکې او الوتکې ټکر



په ۱۴۰۳ل د سلواغې په ۱۰مه نېټه د امريکا په واشنګټن ډي سي کې يوه مسافر وړونکې الوتکه د رونالډ ريګن هوايي ډګر ته نږدې له يوې پوځي چورلکې سره د ټکر له کبله دواړه الوتنې د پوټاميک سيند ته ولوېدې، چې له امله يې ټول ٦٧ کسان، چې په دواړو الوتکو کې سپاره وو، ووژل شول. پېښه د شپې ناوخته رامنځته شوه او ژغورونکي د سيند له يخو اوبو څخه د جسدونو راايستلو هڅې پيل کړې. په هماغه مهال د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د هوايي ډګر د څارنې پر برج نيوکه وکړه او ويې ويل، چې دا پېښه د چورلکې د نامناسب حرکت له امله رامنځته شوې ده.

# ښکلا په څه کې ده؟

یو استاد له خپلو شاګردانو پوښتنه وکړه:

ـ ستاسې په نظر **انسان څه شی ښکلی کوي؟**

یوه شاګرد وویل: سینګار.

بل وویل: ښې جامې او لباس.

نورو شاګردانو دنګه ونه، د بندن سپینوالی یاد کړ او یوه پکې لا دا وویل، چې ځواني د انسان لپاره ښکلا ده.

استاد د دوی د ځوابونو له اورېدو وروسته له کڅوړې دوه پیالې راوویستې، چې یوه یې ډېره ښکلې چیني پیاله او بله یې خاورینه خړه پړه پیاله وه.

استاد په چیني پیاله کې زهر واچول او په خاورینه پیاله کې رڼې اوبه. په دې وخت کې یې شاګردانو ته وویل:

ـ کومه پیاله غواړئ چې ویې څښئ؟

ټولو شاګردانو خاورینې پیالې ته اشاره وکړه.

استاد په ځانګړې موسکا ټولو ته وکتل او ویې ویل:

اصلي ښکلا **معنوي ښکلا ده**، که ترې خبر شوئ، په بل هیڅ حسن او ښکلا به تنده ماته نه‌کړئ!

ژباړه



# مجله ترانسپورت و هوانوردی

ریاست اطلاعات عامه و نشرات

علمی معلوماتی فرهنگی

